مورچل

دعمري عملياتو

پرلپسې تداوم څه په ډاګه کړل!!

لسم کال شپږمه، پرلپسې ۹۴یمه ګڼه، رمضان المبارک۱۴۳۷هق، جون۲۰۱۶م



- امریکا له افغاني عسکرو څنګه کار اخلي
- ډونالډ ټرامپ دامریکا اصلي څیره جوتوي!
- همدلی و احسان بخشی از جهاد مقدس ماست!
- دروژې د ورستیو لس ورځو ځانګړي اعمال
- سوء ظن و پیامدهای آن!
- د اعتکاف فضیلتونه او مسئلې یې !
- په قرآن کې ساینسي تحقیقات!
- ساریه بن زنیم رضي الله عنه
- په مسجدونوکې له چاودنې کولو څخه ځان وساتئ!!!

دکوچني اختر په مناسبت

د أمیرالمؤمنین شیخ الحدیث هبة الله أخندزاده حفظه الله د مبارکي پیغام

مورچل

لسم کال شپږمه، پرلپسې ۹۴ ګڼه، رمضان المبارک ۱۴۳۷هـ ق، جون ۲۰۱۶م

علمي، سیاسي او جهادي میاشتنۍ خپرونه

لړلیک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	دامیر المؤمنین شیخ الحدیث هبة الله اخندزاده حفظه الله پیغام	۳
۳	امریکاله افغانی عسکرو څنګه کار اخلی	۸
۴	دونالډ ټرامپ دامریکا اصلی ځیره جوتوي !	۹
۵	داسلام غزوات او سریا	۱۲
۶	همدلی واحسان بخښنی از جهاد مقدس ماست !	۱۴
۷	دشهادت غوښتنې او فدایي عملیاتو په هکله شرعي دائل.	۱۶
۸	په مسجدونو کې له چاودنې کولو څخه ځان وساتئ !!!	۱۸
۹	داعتکاف فضیلتونه او مسئلې یې !	۲۴
۱۰	ساریه بن زنیم رضی الله عنه :	۲۸
۱۱	سوءظن وپیامدهای آن !	۳۰
۱۲	په قرآن کې ساینسي تحقیقات !	۳۳
۱۳	افغانستان میاشتنې خبرونه :	۳۹
۱۴	دمورچل وژمی :	۵۸
۱۵	دمیاشتې د تلفاتو جدول :	۱۱۶

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حســـن خپل | ایـــوب صـــافی
حســـن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مـــسافر | حافظ سعـــید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

دعمري عملياتو پرله پسی تداوم

څه په ډاګه کړل !!

هيواد کې داشغالګرو او ددوئ دمزدورانو دنسکوريدا په پار دروانو عمري عملياتو مسلسل تعاقب او ګرندي يون دا په ډاګه کړه، چې داسلامي امارت مجاهدين داسلام او خاورې ددښمنانو پروړاندې داوړده جهادي مقاومت او تسليحاتي مبارزې کلک هوډ او نه ستړی کيدونکی تکل لري ،اسلامي امارت پتييلې ،چې دافغانستان دمعضلې يوازينی معقول او شفاف حل ،دنيواکګرو کفارو او قسم خورلو دښمنانو پر ضد متداوم وسله وال جهاد دی او همدا جهاد داسلامي امت او افغان ولس دعزت شمله او دتير مجد اعاده تضمينوي ،همداسې مقابل لورې ته ددې پيغام ورکوي، چې که دخپلې واکمنۍ دبقا لپاره هرڅومره دسيسې اوحيلې پلې کړئ ! دسربښندونکيو مجاهدينو سره په جهادي ډګر کې تاسو ته له شکست او يا فوري خروج څخه پرته بله لاره نده پاتي ،نه دغلامې اداري سره دسولې دمذاکراتو ته تنازل کوم تلپاتې حل دی او نه يې بادارانو سره داسې کومه لاره نيول دجهادي عظمت دساتلو ضمانت ورکوي !

په دې وروستیو کې یوه فدایي برید کې د کابل د کمپنۍ په سیمه کې د ګوډاګۍ اداري د(۱۵۰)پولیسو ډله ایزه وژنه ،بګرام کې امریکایي کاروان باندې په یو استشهادي ګوزار کې د نړدي(۱۵) امریکایي پوځیانو قتل ،د هیواد د شمال ،ختیځ او لویدیځو ولایتونو کې د ګړندیو پوځي فتوحاتو لړۍ او پرمختګونه هغه سپین څراغونه دي، چې له املې یې د کابل دواکمنو سترګې بریښیدلې او شپه او ورځ یې خوبونه تحریم شوي او لکه داوبو اخستې انسان د خپل ځان د نجات لپاره داوبو ځګ ته هم لاس اچوي.

د رمضان المبارک په ګرمو او سختو لحظاتو کې ،د مجاهدینو فدایي ګوزارونه او تند ریز پوځي پرمخیون، د سپینې مانۍ تورپوستې مشر (بارک اوباما)د هغه عسکري بازګشت غبرګون دی ،چې له املې یې بیا زمونږ کنډواله هیواد کې خپلو عسکرو ته د مسلمانانو پر ضد د نوي جنګ حکم ورکړ او ګوابس یې وکړ،چې امریکایي عسکر به روانې جګړې ته بیا ورګډ شي، د رومبي ګام په توګه یې کندز کې د یوه زندان په بندیانو هوایي بمبارد وو ،چې له کبله یې لسګونه معصومې کورنۍ د ویر په ټغر کښینولې او د نړیوالو جنګي اصولو او د منل شویو بشري حقوقو د څرګند نقض مرتکب شول.

زمونږ په باور د اشغالګرو او د دوئ د زرخریدو غلامانو څخه د افغان مسلمان ولس د ژغورید ا او د افغانستان د خپلواکۍ د ترلاسه کید ا معقوله لاره د جهادي مورچلونو ګرم ساتل او د توپک او برچې په زور د خارجیانو شړل دي ،د دې نه پرته نورې لارې خپلول به یا د تسلیمۍ په معنی او یا به دوخت له ضیاع څخه نورځه پایله ونه لري ،اسلامي امارت همدې مؤثریت او اغیزمند اصل ته په کتو ،د کفارو د ځپلو او شړلو لپاره همدا جهادي لار نقشه له لومړیو څخه پلي کړي او تر بشپړې فتحې پورې به نوره هم ادامه ورکوي،ترڅو افغانستان آزاد او هلته یو سپیڅلی اسلامي شریعت حاکم او کفار په خپلو ارادو کې نهیلي او دومره پیښمانه او ستومانه شي، چې د بیا لپاره د کوم اسلامي هیواد د حریم د نیو اک جرأت ونکړي !

وعالیقدر امیر المؤمنین شیخ الحدیث
هبة الله اخندزاده حفظه الله
دمبارکې پیغام

رمضان المبارک
۱۴۳۷هـ ق

الحمد لله الواحد الأحد، الفرد الصمد، الذي لم يلد ولم يولد، ولم يكن له كفواً أحد، تفرّد بالخلق والتدبير، وتعالى عن الشبيه والنظير، فاستحقّ وحدَه أن يُعبد، أحمده تعالى وأشكره، هو خلقنا ورزقنا وكفانا وآوانا، وهدانا للإسلام، واختصّنا ببعثة سيّد الأنام، صلى الله عليه وعلى آله وصحبه، وأشهد أن لا إله إلا الله وحدَه لا شريك له، جعل الإسلامَ طريق الجنّة الأوحَد، وأشهد أنّ محمّداً عبده ورسوله، من أطاعه فقد اهتدى ورشد، ومن عصاه فلن يضرّ إلا نفسه، ولن يضرّ الله شيئاً.

قال الله تبارک و تعالى:

الٓمٓ ۝ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا اَنْ يَّقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُوْنَ ۝ وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكٰذِبِيْنَ ۝ اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ اَنْ يَّسْبِقُوْنَا ۭ سَاۗءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ۝ مَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَاۗءَ اللّٰهِ فَاِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ لَاٰتٍ ۭ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝ وَمَنْ جَاهَدَ فَاِنَّمَا يُجَاهِدُ لِنَفْسِهٖ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ۝ ﴿العنكبوت﴾

امابعد:

هیوادوالو، مجاهدینو، مهاجرینو او ټولو مسلمانانو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

له هرڅه وړاندې د نیکمرغه کوچني اختر (عیدالفطر) مبارکي درکوم. اختر مو مبارک شه! روژې، تراویح، عبادات، صدقات، جهاد او ټول حسنه اعمال مو الله تعالى مقبول وګرځوه. الله تعالى ته دعاء کوم چې د دې مبارکو ورځو په برکت مو نور هیواد له کفري اشغال او فساد څخه خلاص او ځوریدلی اولس د اسلامي نظام او سولې له نعمت څخه برخمن کړي. آمین یارب العلمین.

مسلمان مجاهد ولسه!

د نیکمرغه کوچني اختر خوښۍ په داسې حال کې لمانځوچې یوه نیمه میاشت وړاندې مو یو مؤمن، مجاهد او باجرأته قائد او د افغانستان داسلامي امارت زعیم أمیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور رحمه الله دیرغلګرو لخوا شهید کړای شوی دی.

شهید ملا اختر محمد منصور رحمه الله، د الله تعالى د دین یو ربستینی او فداکار خادم و، خپل ټول ژوند یې د دین خدمت او اعلاء کلمة الله ته وقف کړی و، د اسلامي امارت د بشپړ حاکمیت د مهال غوندې د امریکایي یرغل خلاف د

جهاد په امتحاني کلونو کې يې هم د اسلام د لوړ تيا لپاره لوی خدمتونه سر ته ورسول، د اسلامي امارت د مؤسس امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله له وفات وروسته يې په ډير ښه شکل د اسلامي امارت د ټينګښت، وحدت او جهادي بهير د پر مخ بيولو مسؤليت ترسره کړ، چې بالاخره يې د جهاد په لاره کې د خپل ځان په قربانۍ هم دريغ ونه کړ او په دې لاره کې د شهادت په مقام فائز شو.

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ ۖ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا ۝ [الأحزاب: ٢٣]

ترجمه: له مؤمنانو څخه ځينې داسې کسان شته چې له الله سره يې کړې وعده ريښتيا کړې ده، له هغو څخه چا خپل نذر پوره کړی (شهيدان شوي) او څوک منتظر دي اوپه خپله وعده کې يې هيڅ تبديلي نه ده راوستلې.

د شهيد ملا اختر محمد منصور رحمه الله استقامت، فداکاري او ويار من شهادت مور، ته دا درس را کوي چې زمور، عزيز دين او عالي داعيه له اميره نيولې تر هر غړي پورې د هر تن قربانۍ ته ضرورت لري، د دې دين لپاره د رسول الله صلى الله عليه وسلم، خلفاء راشدينو او د امت د لويو هستيو وينې تويې شوي دي نو ځکه خو بايد مور، هم ځان له هيڅ قسم قربانۍ دريغ نه کړو؛ بلکې د مخکښو واقعي مؤمنانو په څير د الله تعالى په لاره کې شهادت د ځانونو لپاره ويار وبولو.

که د افغانستان داسلامي امارت مؤسس، ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله وفات او ورپسې محترم ملا اختر محمد منصور شهيد شو نو لله الحمد اسلام او غير تي ملت له منځه نه دی تللی، د مسلمان ولس مجاهدينو، علماء کرامو، طالبانو او شهيدانو د وار ثانو جهادي صف (اسلامي امارت) لا هم موجود او د پخوا په شان مستحکم دی.

مجاهدين د پخوا په شان بشپړ جهادي نظم، پراخ او شامل تشکيلات او تر خپل منځ ټينګ او نه ماتيدونکی اتحاد لري. هغه نظريه چې مور، يې له مخې، کلونه وړاندې د اسلامي شريعت د نفاذ په مقصد جهاد پيل کړی و، اوس هم ژوندۍ ده:

وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَاتَلَ ۚ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ ۚ فَمَا وَهَنُوا لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَمَا ضَعُفُوا وَمَا اسْتَكَانُوا ۗ وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ ۝ (آل عمران: ١٤٦)

ژباړه: له دې نه مخکې ډير داسې پيغمبران تير شوي، چې دهغوی په ملګرتيا کې ډير خدای پالونکي خلک وجنګيدل، د الله په لاره کې چې کوم غمونه پرهغوی راغلل، هغوی پرې زړه ماتې نشول، هغوی کمزوري ښکاره نه کړه، هغوی (د باطل په مقابل کې) سر ټيټ نه کړ، الله تعالى همداسې صبر کونکي (مؤمنان) خوښوي.

د اسلامي امارت د زعامت د درانه بار په رابطه به و وايم چې دغه دروند پيټی د ځان لپاره امتياز نه؛ بلکې يو دروند مسؤليت بولم او له ټولو مجاهدينو او مخلصو مؤمنانو مې غوښتنه داده چې د دې درانه مسؤليت د سم اداء کولو، ثبات او استقامت دعاګاني راته وکړي او چې په کومه برخه کې يې په وس پوره وي مرسته راسره وکړي.

اسلامي امارت زمور او ستاسي ګډ کور دی او په دې کور کې چې امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد او شهید امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور رحمهم الله په کومه لار روان وو، زه به هم هغه لاره تعقیبوم، هغوی چې په چا اعتماد در لود هغه به زما د اعتماد خلک وي، په اسلامي امارت کې چې هر چا خدمت کړی په هغه ډول به په اطمنان سره خدمت کوي له هیڅاسره به تبعیضي چلند نه کیږي او د هیڅا قربانیو ته به په کمه نه کتل کیږي.

له الله تعالی څخه توفیق غواړم او ژمنه کوم چې مقدس شریعت او د اسلامي امارت جهادي اهدافو ته به ټینګه پاملرنه کوم، د مسلمان اولس مصالح به مې په نظر کې وي، تصامیم او اقدامات به مې په مشوره وي او د مؤمن او ځوریدلي اولس دلار بنوونې، نیکمرغۍ، خپلواکۍ، ارامۍ او رفاه په لاره کې به له هیڅ راز هڅې دریغ ونه کړم.

د شرعي محاکمو دلا بنو اصلاحاتو او اجرا آتو، د مظلومو بندیانو د خلاصون، د زخمیانو د بنه علاج، د بنځو د شرعي حقوقو د ورکړې، د یتیمانو او بې وزلانو دلاس نیوي، د نوي نسل د تعلیم او تربیې او د سنګرونو د ستړیو مجاهدینو د اکمال او په هره برخه کې ولس ته د خیر رسولو به پوره کوښښ کوم او له الله تعالی نه به توفیق غواړم.

د اسلامي امارت د موجوده پالیسي په اړه باید واضح کړم چې اسلامي امارت د نظامي او سیاسي دواړو برخو لپاره واضحه تګلاره لري، اسلامي امارت باور لري چې افغانستان دیر غلګرو لخوا اشغال دی او دیر غلګرو د ایستلو په مقصد جهاد فرض دی.

اما اسلامي امارت د اشغال د خاتمې، د خپلواک او یوموتی هیواد او په هیواد کې د یوه سپیڅلي اسلامي نظام د رامنځته کیدو لپاره واضحه سیاسي تګلاره هم لري چې د اسلامي امارت د سیاسي دفتر له لورې نړیوالو او هیوادوالو ته توضیح شوې او همداشان به د افغانستان د مسئلې د حل لپاره خپلو هلو ځلو ته دوام ورکوي.

امریکایي اشغالګرو او د هغو نورو خارجي ملګرو ته زمور پیغام دادی چې افغان مسلمان ولس ستاسو د زور او تزویر له استعمال څخه ویره نه لري، له تاسو سره په مقابله کې شهادت د خپل ژوند تر ټولو لوړ هدف او آرمان بولي، تاسو په افغانستان کې د خپلو عسکرو د وخت په اوږدیدا، یا هغوی ته د جګړیزواک په زیاتیدا سره نشئ کولای زمور افغانانو حوصله او جهادي مبارزه ټکنې کړي.

نور د بې ځایه زور آزمویلو پر ځای حقایق ومنئ او خپل اشغال ته د پای ټکی کیږدی، ستاسو په مقابل کې زمور او زمور د سلفو مبارزه په شعوري ډول په اسلامي اساساتو ولاړه او د آزادۍ غوښتنې په روحیه پر مخ ځي، دلته ستاسو مقابله له یوه ګروپ یا یوې ډلې سره نه؛ بلکې له یوه ملت سره ده چې هیڅ کله به یې ونه ګټئ (ان شاء الله) نوښه به وي چې تاسي د زور پر ځای د حل یوه معقوله پالیسي راوړاندي کړئ.

د اشغالګرو همکارانو ته زمونږ پیغام دادی چې په تیرو ۱۵ کلونو کې به در ته بنکاره شوې وي چې تاسو د امریکایي اهدافو د تحقق په لاره کې استعمالیږئ، له اشغالګرو سره ستاسو ملاتړ او دریدل د هغو بدنامو ځیرو کار دی چې زمور په تیر تاریخ کې یې له انګریزانو او بیا شورویانو ملاتړ کړی وو، راتلونکی تاریخ او نسل به ستاسو په اړه همدا ډول

قضاوت کوي، نو دخپل هیواد د آزادۍ غوښتنې په مقابل کې د اشغالګرو له ملاتړه لاس واخلئ، زمور د عفوې او زغم دروازې ستاسو پر مخ خلاصې دي، په بې ځایه امریکایي امیدونو ځان مه تیر باسئ، ملت مو په مقابل کې ولاړ دی، دا چې تاسو له بهرني هوایي او ځمکني ملاتړ سره سره د آرام ژوند نشئ تیرولی ، دا پخپله روښانه کوي چې تاسو د ولس د غوښتنو او هیلو پر خلاف موقف نیولی، افغان ولس د بهر نیانو په لاس جوړ نظامونه نشي منلای .

واضح پیغام مو دادی چې مونږ د قدرت انحصار نه غواړو، د افغانانو ټول قومونه او پرګنې یوه او بل ته ضرورت لري؛ بلکې د اسلامي نظام تکامل ، خپلواکي او قوت د افغانانو په اتحاد او اتفاق پورې تړلي دی. اسلام مورږ ټولو ته د اسلامي ورور ولۍ ، امانت داري او کار اهل کار ته د سپارلو امر کوي د ولس هر وګړی حق لري چې د ژوند د ټولو حقوقو او امتیازاتو څخه ګټه واخلي او سیاسي او ټولنیز حیثیت یې د اهلیت او تقوی پر بنسټ وټاکل شي. راځئ په ګډه د اشغال د خاتمې او د هیواد د خپلواکي او آبادي لپاره ملا وتړو.

د نړۍ له مسلمانانو غوښتنه کوم چې زمور د هیواد په خپلواکي کې د خپلو مجاهدینو وروڼو حمایت وکړي، هغوی سره په هره ممکنه برخه کې چې وي لاس ور کړئ دعاګانې ور ته وکړئ او په روان جهاد کې یې ملاتړ ته دوام ور کړئ .

د سیمې او ګاونډیو هیوادونو ته ور په زړه کوو چې د امریکایانو په لاس د افغانستان اشغال او دلته امریکایي موجودیت زمور او ستاسو ټولو ګډ منافع ګوابني، دلته د فتنو اور ته لمن وهي، دلته د خپلو استخباراتي او نظامي هڅو په پراخوولو سره ټوله سیمه بې ثباته کوي، تاسو هم باید د اشغال په ختمولو کې د افغانانو سره خپل غږ یو کړئ او یا اقلا داسې اقدامات ونکړئ چې هغه د امریکایانو د موجودیت زمانه اوږدوي .

هغوی ته چې د اسلامي امارت جهادي افتخارات پاکستان، ایران اونورو ته منسوبوي ، وایو چې په دغسې غلطو تعبیراتو به کله هم مجاهدین او بادر که اولس له خپل مسیر څخه منحرف نکړای شئ، زمور مجاهد ولس له خپلو دیني او وجداني مسؤلیتونو څخه ژور درک لري، هغوی په ستر ګووینې چې په کور یې د امریکا او ناټو لښکر راغلی، د اسلام په خاوره د کفري لښکرو بیرغونه رپیږي، نو ځکه یې د جهاد لاره اختیار کړې ده، د اسلامي امارت د جهادي موقف مشروعیت، حقانیت او استقلال له پخوا څخه د لمر غوندې واضح حقیقت دی چې را تلونکی تاریخ به یې په زرینو کرښو ثبت کړي .

د هیواد دیني عالمانو، روحانیونو، مدرسینو، د عصري علومو استادانو، محصلینو، متعلمینو، قومي مشرانو، ملي سوداګرو او د علم او قلم خاوندانو ته وایو چې په دې حساسه مرحله کې خپله دیني او ملي وجیبه تر سره کړئ، د کفر اشغال او فرض عین جهاد قضیې ته یوازې د اسلام له نظره وګورئ او خپل مسؤلیت ځان ته معلوم کړئ، د حق سنګر فداکاره مجاهدین باید یوازې پرې نږدئ بلکې په قلم، ژبه او هره وسیله یې ملاتړ وکړئ .

که هر څوک خدای مه کړه د دښمن د تبلیغاتو تر تاثیر لاندې راشي او په یوه او بله بهانه او توجیه سره مجاهدینو ته شا او د کفارو ملګرو ته میلان وکړي نو ضرور به په دنیا او اخرت کې د دې الهي وعید مورد ګرځي چې الله تعالی فرمایي :

وَلَا تَرْكَنُوٓا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ ۙ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ○ (هود ۱۱۳)

ژباړه : او هغو خلکو ته تمایل مه بنیئ چې ظلم یې کړی، بیا به اور در ورسیږي او له الله نه ژغورونکي دوستان به مو نه وي او نه به بیا مرسته در سره وشي .

مجاهد ولس او په خاص ډول په سنګر کې ناستو مجاهدینو وروښو ته ډاډ ورکوم چې لله الحمد د اسلامي امارت مسؤلین او افراد د پخوا په شان په لوړ عزم، قوي ایمان او د اتحاد او اخوت له روحیې سره مبارزې ته اماده دي تاسو ته زیری در کوم چې که موږ ربستیني مؤمنان واوسو نهایې فتحه زموږ ده او د نړۍ هیڅ ځواک زموږ د بریا مخه نه شي نیولی. ځکه الله تعالی فرمایي : وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ. (آل عمران ۱۳۹)

ترجمه : او مه سستیږئ او مه خپه کیږئ او همدا تاسې کامیاب یاست که مؤمنان واوسئ.

مجاهدینو وروښو ته مې توصیه داده چې :خپل نیتونه اصلاح کړئ، خپل هدف دنیایې مال، منصب، غنیمت او شهرت نه؛ بلکې د الله تعالی رضاء خپل هدف وګرځوئ، جهاد یو دیني عبادت او فریضه ده د خپل جهاد له امله په بل مسلمان ځان لوړ مه بولئ او مه وربانديې احسان باروئ. پوه شئ چې زموږ د جهاد لوی هدف د اسلامي نظام حاکمیت دی او د اسلامي نظام عمده مسؤلیتونه د مسلمانانو د دین، نفس، مال، عقل، نسل او عزت ساتنه ده، هیڅ داسې قول، فعل او چلند مه کوئ چې د مسلمانانو دغه ارزښتونه تهدید کړي. کوښښ وکړئ چې په جهاد کې مسلمانان د ځخه آزار نه شي، خپل جهادي فعالیتونه په ډیر دقت سره تعمیل کړئ، عام المنفعه ځایونو لکه شفاخانو، مدرسو، ښوونځیو، پلونو، د اوبو منابعو او نورو د عامه منفعت تاسیساتو او پروژو ته زیان مه رسوئ؛ بلکی حفاظت یې وکړئ. په ټولو سیمو په تیره بیا په هغو سیمو کې چې د اسلامي امارت ترلاس لاندې دي، د نوي نسل د دیني او عصري زده کړو لپاره زمینه برابره کړئ. د هیوادوالو له أذیت څخه په کلکه ځان وساتئ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه قول په یاد ولرئ چې فرمایي :(من ضیق منزلا أو قطع طریقا أو آذی مؤمنا فلا جهاد له) - (رواه ابو داود)

ژباړه: څوک چې په چا ځای تنګ کړي یا لاره قطع کړي او یا مؤمن ته ضرر ورسوي نو د جهاد پوره ثواب یې نشته.

په پای کې مې له شتمنو او وس لرونکو مالدارانو غوښتنه ده چې د اختر په دې شپو ورځو کې خپل فقیر او بې وسه مسلمانان وروښه او خویندې هم له یاده ونه باسي. او د خپل توان مطابق دې له یتیمانو، کونډو، معیوبینو، بندیانو او محتاجو کورنیو سره مرسته وکړي.

نور موږه الله تعالی سپارم او دعاء کوم چې راتلونکي اختر ونه مو د اسلامي حاکمیت د نفاذ او بشپړ استقلال په فضاء کې استقبال کړي.

والســـــــلام

د اسلامي امارت زعیم امیر المؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخند زاده

۲ رمضان المبارک ۱۴۳۷ه ق

۱۳۹۵/۴/۱۲ه ش

2/7/2016 م

امریکایان له افغاني عسکرو څنګه کار اخلي ...؟!

موسی فرهاد

دې وروستیو کې د وال سټریټ ژورنال په نامه یوې مشهورې امریکایی جریدې یو راپور خپور کړ، چې په افغانستان کې میشت امریکایی ځواکونه خپل تربیت شده افغان عسکر د (لومي) په ډول کاروي، ترڅو خپل ځان له مرګ ژوبلې وژغوري او د مرګ خولې ته افغاني سرتیري ورکړي.

د ورځپاڼې په خبره، امریکایی ځواکونه د دې لپاره چې دا معلومه کړي، چې زمونږ په مخ کې دښمن شته، کنه؟ نو لومړی افغاني عسکرو ته امر وکړي، چې مخکې شئ، که چیرې د دښمن له خوا ډزې ورباندې وشوې، نو به دوی پوهشي چې خطر موجود دی، او په دې توګه به امریکایی عسکر له مرګ ژوبلې خوندي پاتې شي.

ورځپاڼه وایی، څه موده مخکې چې اوباما د خپلو ځواکونو د صلاحیتونو د اضافه کولو خبره وکړه، هم یې مطلب دا ؤ چې په جګړه کې به لومړی افغان ملیشو ته لارښوونه کوي چې وسله واخلئ او دښمن ته ورمخکې شئ.

ورځپاڼه زیاتوي چې دا خبرې زمونږ خبریال مایک پیلس ته د امریکا د ځانګړو ځواکونو قوماندان وکړې، چې ویل یې: «مونږ هیڅکله دا نه غواړو چې خپل کماندویان د مرګ یا ټپ له خطر سره مخ کړو»

ورځپاڼه لیکي چې اوس افغان سرتیرو هم دا درک کړې ده، چې له دوی نه د سړک او لارو د پاکولو د آلې په ځیر کار اخیستل کیږي.

دې وروستیو کې د وال سټریټ ژورنال په نامه یوې مشهورې امریکایی جریدې یو راپور خپور کړ، چې په افغانستان کې میشت امریکایی ځواکونه خپل تربیت شده افغان عسکر د (لومي) په ډول کاروي، ترڅو خپل ځان له مرګ ژوبلې وژغوري او د مرګ خولې ته افغاني سرتیري ورکړي.

د ورځپاڼې په خبره، امریکایی ځواکونه د دې لپاره چې دا معلومه کړي، چې زمونږ په مخ کې دښمن شته، کنه؟ نو لومړی افغاني عسکرو ته امر وکړي، چې مخکې شئ، که چیرې د دښمن له خوا ډزې ورباندې وشوې، نو به دوی پوهشي چې خطر موجود دی، او په دې توګه به امریکایی عسکر له مرګ ژوبلې خوندي پاتې شي.

ورځپاڼه وایی، څه موده مخکې چې اوباما د خپلو ځواکونو د صلاحیتونو د اضافه کولو خبره وکړه، هم یې مطلب دا ؤ چې په جګړه کې به لومړی افغان ملیشو ته لارښوونه کوي چې وسله واخلئ او دښمن ته ورمخکې شئ.

ورځپاڼه زیاتوي چې دا خبرې زمونږ خبریال مایک پیلس ته د امریکا د ځانګړو ځواکونو قوماندان وکړې، چې ویل یې: «مونږ هیڅکله دا نه غواړو چې خپل کماندویان د مرګ یا ټپ له خطر سره مخ کړو»

ورځپاڼه لیکي چې اوس افغان سرتیرو هم دا درک کړې ده، چې له دوی نه د سړک او لارو د پاکولو د آلې په ځیر کار اخیستل کیږي.

ډونالډ ټرامپ د امریکا

اصلی څیره جوتوي!

قاری حبیب

د امریکا متحده ایالات نن سبا په نړۍ کې یو مطرح اقتصادي، سیاسي او نظامي زبرځواک بلل کیږي، دا هیواد چې په نړیوالـه سطحه لـه تیرې یوې پیړۍ راهیسې د اشغال، تجاوز، ظلم، حق تلفی او بشریت د محکومولو تور تاریخ لري مګر په رسنیز قضاوت کې لا هم ورته د یوه عـدل او بشري حقوقو ته دژمن هیواد په نظر کتل کیږي.

د امریکا د واقعیت او ظاهري تصویر ترمنځ ددې ستر تفاوت بنیادي وجه داده چې امریکایان په ډیر مهارت توانیدلي چې خپل اصلي تور او کرغیړن تاریخ او کردار د نړیوالو لـه سترګو پټ وساتي. او د رسنیزې برلاسـی پـه زور عـوام الـناس یـوازې پـه ظاهري انساني اکټونو باندې خطاء کړي.

نن سبا به هیڅکله په رسنیو کې دا وانه وري چې د امریکـا بنسټ پـه ظلم، تجـاوز او قسـاوت ایښـودل شـوی دی، مګر تـاریخ وایـي هغـه سـپین پوسـتي اروپایـان چې پـه اسـتعماري دوره کې یـي د امریکا په وچه هجوم وروړ ددې قاري سورپوسـتي بومي اوسیدونکي یې له یوې مخې له تیغه تیر او په ډلییز مرګ ووژل. تاریخ شاهد دی چې سپین پوستو یرغلګرو اروپایانو نه یوازې د بومي اوسیدونکي ځمکې، کښـتونه، مالونـه او شـتمنی تـرې ونیـولې بلکې پـه زهرجنـو وسلـو، سـاري امراضـو، نشـه یـي توکـو او ګنـو نـورو وسیلـو سره یـي هغوی پـه ډلییزه توګه قتـل عـام او دا وچـه یـي د تـل لپـاره تربنـه قبضـه کړه.

د امریکـا پـه هغـه پخـواني کرغیـړن تـاریخ سربیره پـه نړۍ وخـت کې هـم پـه خـانګړي توګـه د امریکا د متحده ایالاتو تـاریخ همیشـه د جبر، ظلم، استعمار او استثمار تاریخ پاته شوی دی. دې هیواد د نولسمې پیړۍ له وروسټیو لا په نړیوالو چارو کې مداخله او شیطاني حرکات پیل کړي و، د امریکا د وچې په کوچنیو هیوادونو دغه راز په افریقا او اسیا کې یې د زیښناک لوبو ته لاس اچولی و.

د لومړۍ او دوهمې نړیوالې جګړې په مهال کله چې اروپا، اسیا او افریقا د جګړې په ډګر بدلې

شوې خو امریکایي وچه له جګړې په امن وه، د یادو وچو زیاتره پوه او مسلکي کدرونو د ځاني امنیت په خاطر امریکا ته کډوال شول، امریکایانو که له یوې خوا په دواړو جګړو کې په ښکیلو خواوو د وسلو له خرڅلاو څخه ډیره ګټه وکړه، له بلې خوا په ځانګړې توګه له اروپا څخه دمغزونو فرار او په امریکا کې د مسلکي کدرونو ځایګزیني هم ورته لویه ګټه ورسوله، امریکایي تعلیمي او سایسني اداره له واره پرمختګ وکړ تردې چې د یوه جرمني ساینسپوه له برکته د امریکا متحده ایالات په لومړي ځل د اتوم د تیکنالوجي خاوند هم شول او په نړۍ یې یکه تازه پاچاهي پیل کړه.

له هماغه مهاله امریکایانو د نړۍ په ګنو هیوادونو کې د ظلم او تجاوز لوبې په لاره اچولې دي، په جاپان یې اتومي بمونه وغورځول او لکونه انسانان یې په څو دقیقو کې ووژل، دا خو په نړۍ د الله تعالی رحم و چې د امریکا په مقابل کې په لږ وخت کې نور اتومي طاقتونه هم پیدا شول، کنه ظالمو امریکایانو چې د کوریا د جګړې په مهال یې چین ته د اتومي بریدا خطار ورکړی و، که تراوسه همداسې یوازینی اتومي طاقت وای، شاید نوله نړۍ یې د ظلم او جبر په وسیله د خپل محکومیت او اتباع وړ بللې وای

په دې سربیره چې د امریکا ځارګرې اداري سي آی اې د مستقیمو او نامستقیمو عملیاتو او جګړو په توسط تراوسه په میلیونو انسانان وژلي او لا هم د قتل، شکنجو او ظلم لوبه جاري ساتي. همدا اوس په افغانستان، عراق او ګنو نورو هیوادونو کې د امریکایانو ظالمانه کړنې ددې قساوتګر هیواد اصلي څیره ډیره ښه بربنډوي.

مګر له دې ټولو واضحو اسنادو او دلایلو سره سره په نړیوال کچه ډیرو ته امریکا لا هم د عدالت او بشري حق د دفاع سمبول بریښي، هغوی امریکا د اقلیتونو د حقوقو علمبردار اوامریکایي ټولنه د اجتماعي عدالت یوه ښه بیلګه بولي. په داسې حال کې چې د امریکایي ټولنې اړوند حقایق له رسنیو پټ ساتل کیږي او د دې ټولنې په اړه یوازې مصنوعي مثبت معلومات د نړیوالو مخ ته عرضه کیږي.

خو د امریکا د سړکال په تاکنو کې یوه عجیبه نندارې پیښه شوه، هغه دا چې د ټولو اټکلونو خلاف یو داسې امریکایي سیاستوال د سیاست میدان ته رانښکاره شوه چې په لومړي ځل به د دې مرموز هیواد اصلي جابرانه څیره په رسمي توګه نړۍ ته وړاندې کړي.

دا سیاستوال ډونالډ ټرامپ دی چې د امریکا د جمهوري خواهانو د ګوند لخوا دولسمشرۍ تاکنو ته کاندید دی. نومورې چې تراوسه کوم اظهارات کړي یا یې کومې برنامې وړاندې کړي دي داسې معلومیږي چې نومورې د ساده ګۍ تر حده د خپل ټولنې تصویر په بشپړه توګه نړۍ ته وړاندې کړي.

ډونالډ ټرامپ چې یو متعصب نژاد پرست دی خپل دا نظر له خلکو نه پټوي چې د اقلیتونو په خلاف خورا له کرکې او تبعیض نه ډک دریځ لري، د نومورې د ملاتړو شل فیصده خلکو د یوې سروې په مهال ویلي چې کاشکې پخواني امریکایي مشر ابراهم لینکن په امریکا کې د تورپوستو غلامي نه وای لغو کړي، مطلب دا چې ټرامپ او ملاتړي یې په دې یوویشتمه پیړۍ کې هم غواړي چې خپل

تورپوستي امريکايان يو ځل بيا د سپين پوستو غلامان شي.

ډونالډ ټرامپ چې په نژادي تعصب سربيره

مذهبي تعصب هم لري. وايي چې امريکا ته به د مسلمانانو په سفر بنديز ولګوي، دغه راز هغه امريکا چې ځان يې د نړۍ په سطحه د کډوالو تر ټولو ښه پناه ګاه بلله او د نيويارک د ازادۍ په مينار د حک شوې پيغام په توسط يې ختيځوالو ته د ورتګ بلنه ورکوله اوس يې د جمهوري رياست کانديد ډونالډ ټرامپ وايي چې د کاميابۍ په صورت کې به له جنوبي ګاونډي مکسيکو سره په پوله ديوال ووهي تر څو له دې هيواده هيڅ کارګر يا کډوال امريکا ته وانه وځي.

ټرامپ چې غواړي د بشريت د تباهۍ په بيه دامريکا پرمختګ غواړي د نړيوالې تودوخې موضوع ته هم له امريکايي عينکو ګوري او وايي چې اصلا دا ايډيا د چين لخوا رامنځته شوې تر څو په دا ډول شعارونو امريکايي توليدات کنټرول کړي، نوموړی وايي امريکايانو ته لويه اقتصادي ضربه د چاپيريال ساتنې ادارو ورکړې چې په خپلو تبليغاتو د امريکا د ډير توليد مخه نيسي. ټرامپ وايي په چيني توليداتو به په امريکا کې ۴۵ فيصده تعرفه ولګوي تر څو امريکا له چينايي توليداتو تصفيه کړي.

ټرامپ په خرګندو ټکو وايي چې په امريکا کې واک د اقليتونو لاس ته لويدلی، تورپوستی ولسمشر دی او د امريکا اصلي واکدار سپين پوستي له واکه لويدلي دي. امريکا چې ځان د بنځو د کار او حقوقو علمبردار بولي مګر ټرامپ له دې ايډيا سره هم مخالف دی، نوموړی وايي په امريکا کې ټول کارونه او منصبونه بنځو نيولي دي او دا وضعيت بايد بدل شي. نوموړي د اتومي بمونو د استعمال احتمال هم نه ردوي او وايي امريکا دا وسلې د همدې لپاره جوړې کړې چې يوه ورځ يې د جاپان د پيښې په څير استعمال کړي.

د ډونالډ ټرامپ دا خبرې د نوموړي شخصي نظريات نه دي، بلکې د هغو ټولو امريکايانو نظريات دی چې دده ملاتړ کوي، هغه چې نوموړی يې د ټولو جمهوري غوښتونکو کانديدانو له منځه انتخاب کړی دی، د ټرامپ په اړه ويل کيږي چې نوموړی پوپوليست يا عوامګرا سياستوال دی، چې په عامو پرګنو کې ژور ملاتړ لري له همدې امله خو د نوموړی کرغيړن او ضد انساني مواقف په دې دلالت کوي چې اصلا امريکايي ټولنه د څومره وحشت او پستۍ په ګرداب کې پرته ده.

ابو ظهیر

د اسلام غزوات اوسریا

دبنو نضیر غزوه

دا غزوه دهجرت په څلورم کال ربیع الاول میاشت کې پیښه شوې ، کله چې عمروبن امیه ضمري (رض) له بیرمعونه څخه بیرته راته، په لار کې یې دبني عامر قبیلې ددوه تنو مشرکانو سره یوځای شو ، دریواړه یوباغ کې تم شول هغوی دواړه ویده شول ،عمربن امیه ضمري فکر وکړ چې دبني عامر قبلې له سردار عامربن طفیل نه چې اویا تنه مسلمانهان یې شهیدان کړي دهغوی ټولو غچ في الحال اخستل گران دي البته ددې دوه تنو په وژلو به دځینو غچ واخلم، هغوی دواړه یې ووژل ، داپه داسې حال کې چې له هغوی سره درسول الله (ص) وعده او عهد کړی و ، لیکن عمروبن امیه ضمري(رض) ورڅخه خبر نه و ، مدینې ته چې ورسید رسول الله (ص) ته یې ټوله کیسه وکړه رسول الله (ص) وفرمایل:

دهغوی سره زمونږ عهد اوپیمان و ، دهغوی دیت به ضرور ورکوو ، رسول الله (ص) د هغوی دواړو دیت ور واستاوه (فتح الباري ۷ټوک ۲۵۴مخ)

داچې بني نضیر هم دبني عامر حلیفان و ،په دې وجه ددیت څه برخه په هغوی (بني نضیر)هم اداء کول واجب و ، ددې لپاره رسول الله (ص) دمعاهدې له مخې او دمرستې ترلاسه کولو په غرض بني نضیر قبیلې ته ورغی، چې ورسره ابوبکر صدیق، عمر، عثمان، زبیر، طلحه، عبد الرحمان بن عوف سعد بن معاذ، اسید بن حضیر او سعدبن عباده ملګري وو ، رسول الله (ص) ته دیو دیوال سیوري ته کیناست، بنو نضیر په ښکاره په ډېره خوښۍ سره دمرستې او ددیت اداء کولو ژمنه وکړه خو په پته یې دامشوره طې کړه چې یوتن به بام ته وخیږي اوله بره نه به یو درنه تیګه ورباندې راوغورزوي څو رسول الله صلی الله مرشي سلام بن مشکم وویل:

لاتفعلوا والله لیُخبرهُ ربُه وانّه لنَقض العهد الذی بیننا وبینه

ژباړه :داسې هرګز مه کوئ په خدای سوګند دی چې دهغه رب هغه ته خبر ورکوي اوبل دابد عهدي هم ده خو لږ څنډ نه وتیر چې جبریل امین وحي راوړه اورسول الله (ص) یې خبر کړ، سملاسي رسول الله پورته شو او مدینې ته راغی، رسول الله (ص) دهغه ځای نه داسې پورته شو لکه څوک چې د کوم ضرورت لپاره پورته کیږي او صحابه هم هلته ناست وو ، کله چې یهودتګ نه خبر شول نوډېر زیات خفه پښیمان شول کنانه بن حویراء یهودي وویل:

آیا تاسوته معلومه نشوه چې محمد (ص) ولې پورته شو او لاړ، په خدای سوګند ستاسو له غداري خبر شو او په خدای سوګند ربښتیا دخدای رسول دی

کله چې درسول الله (ص) بیرته رانغی او وځنډیده نو صحابه یې په پلټنه مدینې ته راغلل رسول الله (ص)

هغوی دیهودو دغداری نه خبر کړل او په بنو نضیر باندې یې دحملې حکم وکړ عبد الله بن مکتوم یې دمدینې عامل مقرر کړ او دبنو نضیر په لور یې حرکت وکړ هغوی یې کلابند کړل.

بنو نضیر پخپلو کلاګانو مغرور ول هغوته ننوتل او دارواز یې بنديې کړې هم دعبد الله ابن ابی او منافقینو لخوا دې پیغام چې مونږ له تاسو سره یو دي نورهم هم مغرور کړل خو دمسلمانانو سره دمقابلې همت یې ونکړای شو په دې علاوه بنو نضیر یوه بله غداري او عیاري وکړه چې رسول الله (ص) ته یې پیغام و استاوه چې ته له خپلو درې تنو ملګرو سره یوځای راشه زمونږ له درې تنو علماوو سره خبرې وکړه که هغوی په تا ایمان راوړو مونږ هم ایمان راوړو خو په پته هغو علماوو ته هدایت کړی و چې دلیدلو په مهال پخپلو کالیو کې له ځانو سره پټ خنجرونه ویسئ او هلته دموقع سره سم رسول الله (ص) قتل کړئ خو رسول الله(ص) ته دیوې زریعې څخه دهغوی چالاکې اوعیارې معلومه شوه (رواه ابن مردویه باد سناد صحیح)

غرض داچې دبنو نضیر دګنو غداریو په وجه رسول الله(ص) په هغوی باندې دحملې حکم وکړ ترپینځلس ورځو پورې یې هغو کلابند کړل دهغوی ونې اوباغونه پریک کړل او وې سیزل په دې سره هغوی خایب او خاسر شول دامان ورکولو غوښتنه یې وکړه.

رسول الله (ص) ورته لس ورځې مهلت ورکړ چې مدینه خالي کړئ خپل ماشومان اوښځې چې هر چیري بوځئ هلته یې بوځئ سیوا دجنګي توکیو او سامانونو څخه چې نه به یې وړئ باقي نور هر څومره سامان او توکې چې په سورلیو او اوښانو وړل کیدای شول ورته دوړلو اجازه یې ورکړه

یهودو دمال په حرص کې دکوټو دروازې او درشلونه هم ویوړل هرڅومره چې په اوښانو وړل کیدل هغومره یې ویوړل او له مدیني څخه جلا وطن شول زیاتره خیبر ته لاړل او هلته میشت شول اوځینې شام ته لاړل او دهغوی سردار حیی بن اخطب او کنانه بن الربیع الحقیق هم له هغو خلکو څخه وو چې خیبر ته لاړل

رسول الله (ص) دهغوی مالونه په مهاجرینو باندې وویشل څو له انصارو څخه دهغوی بوج سپک کړای شي اګرکه انصارو دخپل ایثار او دخپل بې پناه اخلاص په وجه مهاجرینو ته دمالونو په ورکولو کومه نیوکه ونکړه خو رسول الله (ص) هغوی راجمعه کړل ورته وینایې وکړه دحمد او ثنا وروسته یې دانصارو دکومکونو او مهاجرینو سره دمرستو ستاینه وکړه بیا یې وفرمایل:

اې انصارو ! دبنو نضیر مالونه په تاسو او مهاجرینو یوشان تقسیم کړم چې مهاجرین تاسو سره شریک وي او که یواځې په مهاجرینو یې تقسیم کړم چې هغوی ستاسو له کورونو څخه وزي؟

سعد بن عباده او سعد بن معاذ وویل:

مونږ په ډېره خوشالۍ او له زړونه راضي یو چې مال په مهاجرو تقسیم کړي او دپخوا پشان مهاجر زمونږ په کورونو کې میشت وي او په خوړو څکلو کې له مونږ سره شریک وي. په یو بل روایت کې دي:

دالله رسوله ! دامالونه په مهاجرینو وویشه او په دې سربیره زمونږ په مالونو کې چې ته ورته څومره برخه ورکول غواړي مونږ په ډېره خوښۍ سره راضي یو رسول الله (ص) ددې ځواب په اوریدو هغوی ته دا دعاء وکړه: اللهمّ ارحم الانصار وابناء الانصار

ژ: یا الله ! په انصارو او دانصارو په اولادونو خپل خاص رحم نازل کړي پای نوربیا.

همدلی و احسان بخشی از جهاد مقدس ماست!

محمود احمدنوید

در چند روز اخیر کمک های انسان دوستانه و خیر خواهانهٔ مجاهدین در ماه مبارک رمضان با ملت خود در گوشه و کنار افغانستان در رسانه های خبری مجاهدین و صفحات اجتماعی بسیار خبر ساز شده و تمام تبلیغات دروغین دشمنان که از مجاهدین چهره های خشن و ضد مردمی در رسانه های زرخرید خود داشتند را پوچ و برملاء ساختند؛ این عمل حسنهٔ مجاهدین ضمن آنکه یک اقدام بسیار نیک و ارزشمند در نزد الله جل جلاله است بلکه یک گام بسیار خوب در جهت نشان دادن مهر و محبت درونی مجاهدین با ملت خویش نیز بوده و باعث ایجاد قرابت فکری و عملی با مردم می شود.

در حالیکه رسانه های اجیر شدهٔ دشمنان مثل تلویزیون یک و طلوع بارها و بارها با دروغ ها و گزافه گویی های خود در ذهن و فکر ملت مومن و شریف افغانستان از طالبان بد گویی و بر خلاف اصول رسانه ای و رسالت مهم رسانه ها در راستای آگاهی درست و صحیح از جریان ها و تحولات کشور عمل کرده و کارنامهٔ سیاه در تاریخ رسانه دارند؛ آنگاه که کارهای شایسته مجاهدین را می بینند که در سطح بالا و قوی در جامعه تبلیغ می شود و هیچ چارهٔ جز قبول کارهای شایسته مجاهدین را ندارند و همینطور بر دوراهی نشر اخبار از کارها و فعالیت های انسان دوستانهٔ طالبان قرار می گیرند؛ نمی دانند کدام راه را بر گزینند آیا به مردم دروغ بگویند انکار کنند که مثلا مجاهدین در جاهای مختلف کمک های هنگفت با ملت خویش نداشته و در نهایت تن به رسوایی و بی اعتمادی بیشتر بدهند؛ و یا اینکه بر خلاف اصول تعریف شده از سوی اربابان شان راجع به اینگونه فعالیت های مجاهدین خبر رسانی کنند که این امر نیز موجب از دست دادن موقعیت و مرتبهٔ شان از سوی باداران شان می شود که بهترین گزینه برای شان سکوت می ماند و یا دیوانه وار فریاد بزنند که چرا طالبان این کارها را می کنند؟!

بطور نمونه، یما سیاوش مجری تلویزیون طلوع راجع به کمک های خیر خواهانه مجاهدین با ملت مسکین و بی بضاعت خود، در صفحه فیسبوک کش با گذاشتن تصاویری از طالبان که در حال کمک با مردم می باشند نوشته است:

"در کندز چیمیگزرد؟

کجاستوالیاینولایت؟

کجاستفرماندهامنیه؟

کجاست فرمانده فرقه20 که تازه تشکیل شده؟

طالباندرولسوالیامامصاحب به مردم کمک کرد.

این مجری شیطان صفت گویا در تلاش است یک خبر مهم را بروز رسانی کند اما دیوانه وار ارگان های محلی را صدا می زند که کجایند؛ یعنی چه یعنی ببایند جلوی کمک های طالبان به ملت را بگیرند؟

یعنی نباید به ملت مظلوم و مسکین افغانستان از طرف کسی کمک شود چون نوعی جرم است؟

ویا نه موسسه های خارجی به هزار هدف و نیت شوم می توانند کمک کنند و قابل تحمل است اما اگر مجاهدین اینگونه اعمال

را انجام بدهند جرم تلقی می شود؟!

و اصلا شاید به این خاطر باشد که کجایند ارگان های محلی بیایند جلوی اینگونه فعالیت های طالبان که خبر ساز شدن این اخبار باعث می شود مردم به حقانیت و خیر خواهی طالبان پی برده و تمام تبلیغات سیاه و دروغین شبکه های خبری و اجتماعی حکومت مزدور کابل و قلم به دستان اجیر و رسانه های زرخرید آن از بین بروند و ملت بفهمد که واقعا طالبان آنگونه نیستند که طلوع و یک و غیره می گویند بلکه طالبان همچنانکه احساس و غیرت کفر شکنی و اشغال ستیزی را دارند به همان منوال، احساس همدلی و همنوایی با ملت مسکین و بی بضاعت خویش را نیز دارند و باز تاب و تبلیغ این مفکوره به معنای مرگ رسانه های زرخرید دشمنان و تبلیغات پوچ شان است.

و اما در جواب سیاوش و امثالش که حتما کتلهٔ عظیمی از دروغگویان اند باید گفت:

واقعیت آن است که در قندوز حقانیت طالب و بطلان حکومت اجیر می گذرد.

والی این ولایت که از سوی حکومت مقرر شده با گوشت و خون ملت معامله کرده و نه اینکه از مال شخصی و حکومتی چیزی به ملت نمی دهند بلکه همان کمک های خیریه که به اسم مردم افغانستان از خارج می آیند را هم به جیب مبارک شان می زنند.

قوماندان امنیهٔ اجیر حکومت در قندوز، با سربازان دزد و دغلبازش نقشه می کشند که چگونه سر راه مردم را گرفته و کلاس های جیب بری و سرقت و چور و چپاول را که از بادار ان خارجی شان آموزش دیده را بر

سر ملت غریب و بیچارهٔ افغان طرح و اجراء نمایند.

فرماندهٔ فرقهٔ 20 تازه تشکیل شده با دیگر فرماندهان اجیر حکومت در حال نقشه کشی اند که همین کمک هایی که طالبان با ملت مسلمان خویش کرده اند را چگونه و به چه بهانه از چنگ ملت در آورده و به ملت مظلوم باز چه تهمت ها و افترائات دروغین بزنند.

و اینکه طالبان در ولسوالی امام صاحب کمک کرد باید بگوییم که مجاهدین نه تنها در ولسوالی امام صاحب قندوز این عمل خیر را انجام دادند و نه هم اینکه این کمک ها دفعه اول شان است؛ بلکه مجاهدین همیشه با ملت خود کمک کرده و می کند و نه تنها در قندوز بلکه در سایر ولایت ها از جمله فراه، فاریاب، کنر، پکتیا و پکتیکا و ... این کمک های انسان دوستانه و خیر خواهانه را انجام داده و این سلسله کماکان جریان دارد. اما چیزی که دشمنان کمتر می پرسند این است که طالبان از کجا این کمک ها را با ملت خود کرده اند؛ بله مجاهدین این کمک ها را از بودیجه های هنگفت حکومتی و یا از طریق موسسه های خیریه جهانی انجام نداده اند؛ بلکه مجاهدین این کمک ها را از همان خرجی و مصرف روزانهٔ خود که به سربازان نظامی شان در میدان های جنگ می دهند کمک کرده، در واقع از همان نانی که در سنگر به خاطر رفع ضرورت انسانی و گرسنگی داشتند کمک کرده و نان سنگر شان را با ملت مسکین خود تقسیم نمودند خیر است اگر طالب یعنی همان مجاهد شب گرسنه بخوابد ولی اگر ملت گرسنه اش در پهلویش سیر بخوابد برای مجاهد چنان ارزش دارد مثلیکه یک کندک مهم نظامی را فتح کرده باشد؛ چون مقصد رضای الله است که همانطوریکه با فتح و پیروزی بر دشمنان حاصل می شود ممکن با سیر کردن شکم گرسنهٔ بندهٔ از بندگان الله نیز حاصل شود؛ و مجاهد به دنبال حصول همین مقصد والاست.

د شهادت غوښتنې او فدايي عملياتو

په تير پسې

ليکوال: بن نايف الشحود الدمشقي.

په هکله شرعي دلائل

ژباړه ابو عبدالله مخلص

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: عَجِبَ رَبُّنَا عَزَّ وَجَلَّ مِنْ رَجُلٍ غَزَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَانْهَزَمَ - يَعْنِي أَصْحَابَهُ - فَعَلِمَ مَا عَلَيْهِ، فَرَجَعَ حَتَّى أُهْرِيقَ دَمُهُ، فَيَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى لِمَلَائِكَتِهِ: انْظُرُوا إِلَى عَبْدِي رَجَعَ رَغْبَةً فِيمَا عِنْدِي، وَشَفَقَةً مِمَّا عِنْدِي حَتَّى أُهْرِيقَ دَمُهُ "سنن ابي داود : ج: ١ / ٣٤٣. باب في الرجل يشري نفسه..".

ژباړه: له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی نومورې وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: الله جل جلاله له هغه کس نه ډېر خوښيږي چې د الله جل جلاله په لاره کې جهاد کوي ,ملګري يې ماته وخوري او په شا لاړ شي، دی پدې پوهيږي چې په شکست او شا ته تګ کې څومره ګناه ده, بيرته د دښمن په لوري راوګرځي, ترڅو يې وينه تويه شي، الله جل جلاله ملائکو ته وايي زما بنده ته وګورئ ! زما د جنت او ثواب په طمعه او زما د عذاب او دوزخ له وېرې بېرته راوګرځېد, ان تردې چې وينې يې تويې شوې.

د دليل څرګندونه:

له ذکر شوي حديث نه معلومېږي چې د ملګرو له شاته تګ او ماتې نه وروسته هم که څوک د الله جل جلاله د عذاب له وېرې او د ثواب په طمعه له دښمن سره په يواځې توګه جګړه وکړي ترڅو شهيد شي الله جل جلاله ته يې قرباني قبوله او عمل يې دوياړ لايق دی.

٣٣- وعن البراء، رضي الله عنه، قال: أتى النبيّ صلى الله عليه وسلم، رجلٌ مقنّعٌ بالحديد، فقال: يا رسول الله أقاتلُ أو أسلمُ؟ فقال: أسلمْ، ثم قاتلْ فأسلم، ثم قاتلَ فقتلَ، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: عمل قليلاً وأجر كثيراً "متفق عليه، وهذا لفظ البخاري. رياض الصالحين، ج: ٢/ ١٦١".

ژباړه: له براء بن عازب رضي الله عنه روايت دی نومورې وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يو کس پداسې حالت کې راغی چې (زغرې) له وسپنو نه جوړې شوې جامې يې اغوستې وې، عرض يې ورته وکړ، ای د الله جل جلاله استازيه زه جګړه وکړم او که اسلام راوړم، رسول الله صلى

الله علیه وسلم ورته وویل: لومړی اسلام راوړه او بیا جګړه وکوه، اسلام یې راوړلو بیا یې جګړه وکوله او شهید شولو، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: عمل یې لږ وکړ او ډېر ثواب ورته ورکړل شولو.

۳۴- روي أن رجلا قال للنبي صلى الله عليه وسلم: أرأيت إن قتلت في سبيل الله صابرا محتسبا؟ قال: فلك الجنة فانغمس في العدو حتى قتل

ژباړه: یو سړي رسول الله صلی الله ته وویل: که زه د الله جل جلاله په لاره کې د ثواب غوښتنې او صبر کولو په حالت کې ووژل شم زما به څه حالت وي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ستا لپاره به جنت وي، هغه د دشمن په صف کې داخل شولو ترڅو شهید شولو.

۳۵- وَقَدْ أَخْرَجَ أَحْمد وَصَحَّحهُ بن حبَّانَ مِنْ حَدِيث عُتْبَة بْن عُبَيْد رَفَعَهُ الْقَتْلَى ثَلَاثَة رجل جَاهد بِنَفسِهِ وَمَا لَهُ فِي سَبِيل الله حَتَّى إِذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ قَاتَلَهُمْ حَتَّى يُقْتَلَ فَذَاكَ الشَّهِيدُ الْمُفْتَخِرُ فِي خَيْمَة الله تَحْتَ عَرْشِهِ لَا يَفْضُلُهُ النَّبِيُّونَ إِلَّا بِدَرَجَةِ النُّبُوَّةِ (فتح الباری لابن حجر جلد: ۱۰ صفحه: ۱۹۳.)

ژباړه: امام احمد دغه حدیث ذکر کړی او ابن حبان صحیح بللی، له عتبة بن عبید نه چې هغه بیا په مرفوع ډول سره ذکر کړی نومورې وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د الله جل جلاله په لاره کې وژل کېدونکي کسان په درې ډوله دي، یو هغه سړی دی چې د الله جل جلاله په لاره کې په خپل سر او مال سره جهاد وکړي ان تر دې چې له دښمن سره مخامخ شي له هغوي سره و جنګېږي او ووژل شي، دا هغه شهید دی چې په خپل شهادت به ویاړي، او له عرش نه لاندې په یوه خیمه کې به وي چې پیغمبران به یواځې د نبوت د درجې له امله له هغه نه بهتر اوغوره وي.....

نوربیا....

د قدر شپه

قال الله تعالى: إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ) ۱ (وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ) ۲ (لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ) ۳ (تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ) ۴ (سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ) ۵ (

ژباړه: بې شکه موږ دغه قران د قدر په شپه نازل کړی، اوتاته څه شي خبر درکړی چې د قدر شپه څه ده ؟[د شرافت او عزت له پلوه] د قدر شپه ترزرو میاشتو غوره ده. په دغه شپه کې ملائکه او جبرئیل علیه السلام د خپل رب په اذن سره زمکي ته راکوزیږي، د پاره د هرکار [چې مقرر شوي وي په راتلونکي کال کې] امان او سلامتیا ده له هره آفته. د اشپه د سپیدو تر راختلو پورې ده [یعني د برکاتو نزول د رحمتونو عطایاوي، او د اجرونو ورکړې، او د ملایکو ؤ نزول د سپیدو تر راتلو پورې وي)

تشریح: د قدر شپه د الله تعالی د سترو پیرزوینو او عظیمو احساناتو څخه ده، لوی خدای جل جلاله خپله دغه شپه د قدر په نوم یاده کړي، او د دغه شپې په اړه یې ځانګړی سورة نازل کړ

په مسجدونو کې له چاودنې کولو څخه ځان وساتئ !!!

ليکنه: شيخ ابو المنذر الشنقيطي

ژباړه: ځواکمن طالب

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على النبي الكريم وعلى آله وصحبه أجمعين.

مسجدونه په زمکه کې دالله کورونه دي، الله جل جلاله ته خوښ ځايونه دي، دالله دنيکو بندګانو ديوځای کيدو ځايونه دي، ګناه ګارانو ته دهدايت مناري دي، په مسجدونو کې رحمتونه نازليږي، سکينه او برکتونه رابښکته کيږي، په مسجدونو کې عبادتونه او نيکی ترسره کيږي له مسجدونو څخه دتسبيح او تکبير ږغونه راپورته کيږي.

علامه قرطبي رحمه الله وايي: په حديث کې راځي چې په ښارونو کې خوښ ځايونه الله تعالی ته مسجدونه دي، يعني دښار په ودانيو کې، يا په سيمو کې او دا ځکه چې مسجدونه دعبادتونو، اذکارو، دمسلمانانو دراټوليدا، ددين دشعائرو دښکاره کيدلو، او دملائکو د حضور لپاره ځانګړې کړل شوي دي (۱)

په مسجدونو کې تږي نفسونو دهدايت له چينو څخه خپله تنده ماتوي، او دعلم، حکمت او ايمان په دسترخان باندې څړي.

مسجدونه داسلام دپيغام، داسلام دلارښوونو، او داسلام دمنهج درسولو منابع دي، ډير بې ليارې دلته په لار راغلي، ډير حقپاله علماء تږي راوتلي، ډير مجاهدين او دالله په لياره کې انفاق کوونکي سخيان پکې روزل شوي.

الله تعالی دمسجدونو مرتبې او مقام ته په اشاره سره فرمايي: {فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللهُ أَن تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ} (النور: 36.)

چې کله مسجدونه دومره ستره مرتبه او مقام لري په هر مسلمان واجب دي چې احترام او قدر يې وکړي، مينه ورسره وکړي، دتعظيم او تبجيل په سترګه ورته وګوري، مسجدونه دالله له شعائرو څخه دي، دمسجدونو تعظيم دالله جل جلاله دشعائرو تعظيم دی، الله تعالی فرمايي: {ذَلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ حُرُمَاتِ اللهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ عِندَ رَبِّهِ} [الحج: 30]، او فرمايي: {ذَلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى الْقُلُوبِ} (الحج: 32)

علامه سعدي رحمه الله فرمايي: دالله جل جلاله دشعائرو تعظيم د زړونو له تقوی څخه چينه اخلي، نو څوک يې چې تعظيم کوي دا دهغه په تقوا، او ايمان باندې دلالت کوي، ځکه دشعائر الله تعظيم دالله جل جلاله دتعظيم تابع دی.

سلفو صالحينو به دشعائر الله ډير تعظيم کاوه.

الله جل جلاله د مسجدونو دتعظيم وجوب ته په خپل دې قول کې

اشاره کړې: [فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَنْ تُرْفَعَ] [النور:36] يعني حسا او معنا بايد هسک کړل شي چې په زړونو کې يې مرتبه اوچته کړل شي، او د زمکې له ټولو ټوټو بايد ممتاز کړل شي ترڅو دزمکې پرمخ مقدس ځايونه وګرځول شي.

ځکه خو علماؤ دهر هغه څه په منعه کولو تصريح کړې چې امکان ولري دمسجد دسپکاوي سبب وګرځي تردې چې ځينې فقهاؤ له همدې امله په مسجد کې د څاه ګانو له کنستلو څخه منعه کړې

قال ابن نجيم:(ولا يتخذ في المسجد بئر ماء لأنه يخل بحرمة المسجد). (2)

ابن نجيم وايې: په مسجد کې به داوبو څاه نه باسي ځکه دا دمسجد حرمت او تقدس ته خلل رسوي.

الله جل جلاله دمسجدونو ساتنه او له مسجدونو څخه دفاع دجهاد له مهمو مقاصدو څخه ګرځولې ده او دا يې په قرآن کريم کې په خپل دغه مبارک قول کې بيان کړې:

}وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا [الحج: 40)

علامه سعدي ددغه آيت مبارک په تفسير کې ليکي:

(ودل ذلک على أن البلدان التي حصلت فيها الطمأنينة بعبادة الله، وعمرت مساجدها، وأقيمت فيها شعائر الدين كلها، من فضائل المجاهدين وببركتهم، دفع الله عنها الكافرين). [3]

ژباړه: له دې څخه معلوميږي چې هغه ښارونه چې دالله عبادت پکې په اطمينان سره ترسره کيږي، مسجدونه يې اباد دي، او د دين ټول شعائر پکې قائميږي دا ټول دمجاهدينو فضيلت او برکت دی چې الله جل جلاله دهغوی په سبب کافران تر يې دفعه کړي دي.

له پخوا څخه مسجدونه هغه ځايونه وو چې مجاهدين به پکې تربيه کيدل، له مسجدونو څخه به دجهاد سنګرونو ته تشکيلات کيدل، چې بيا به مجاهدينو دشرک، او کفر مرکزونه ځپل.

کوم مجاهد به چې په مسجدونو کې تربيه شوی وو، هغه به دمسجد په ستر مرتبې او حرمت پوهيده، نو ځکه به يې هغه مهال وينه په جوش راتله چې کفارو به دکوم مسجد سپکاوی کاوه، او يا به يې مسلمانان پکې له لمانځه کولو او يا له وعظ او ارشاد څخه منعه کول، او يا به يې لمونځ کوونکي بنديانول او په هغوی به يې اوښکې بهوونکی ګاز استعمالوه.

خو نن ورځ داسې خلک پيدا شوي چې دالله دخونو هيڅ قدر نه پيژني، او نه يې تقدس مراعاتوي، او په ورانولو او تخريبولو کې يې هيڅ حرج او باک نه محسوسوي، ساتنه او مضبوتول خو يې لرې خبره ده.

دوی دطاغوت دلښکر په ځير لمونځ کوونکي په زندان يا په اوښکې بهوونکي ګاز نه په ننبه کوي، بلکې له هغوئ څخه څو قدمه وړاندې ځي او لمونځ کوونکي په شهادت رسوي.

دوی مسجدونه دخپلو تفجيرونو هدف ګرځوي، ته به وايې چې له مسجدونو سره بيخي نابلده دي او هيڅ يې پيژني نه، يا يې په مسجدونو پخوانی غچ پاتې دی، په حقيقت کې ددغه خلکو زړونه راندې دي، دوی دشرک او تنديد او دعبادت او توحيد دځايونو ترمنځ توپير نشي کولای.

د حيرانتيا خبره خو دا ده چې هغه حکام چې دالله شريعت يې تبديل کړی دمسجدونو په تعظيم او توقير قائل دي، او هر وخت پدې

هڅه کې دي ترڅو ځان دمسجدونو ساتونکي او مدافعين معرفي کړي، خو په نفس وخت کې ځينې هغه کسان چې ځان جهاد ته منسوب بولي مسجدونه خپل هدف ګرځوي او په هيڅ احترام او مرتبې ورته قائل نه دي.

دغه خلک چې دا خيال پې کړی چې دمسجدونو تفجيرول دثواب او الله ته دنږديکت سبب دی، او يو جهادي عمل ده، په حقيقت کې دالله جل جلاله په دغه قول باندې نه دي پوهيدلي:

}وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَن يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ وَسَعَى فِي خَرَابِهَا أُولَٰئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَن يَدْخُلُوهَا إِلَّا خَائِفِينَ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ[[البقرة: 114]

ددې آيت کريمه ظاهر دا دی چې دمسجدونو دتخريب هڅې کول ترټولو ستره او شنيعه ګناه ده، او دا چې دمسجدونو دوراني له هڅې کوونکي څخه څوک ستر ظالم او مجرم نشته.

علماوو ويلي دي چې ورانی دوه ډوله دي يو حسي لکه ړنګول، او بل معنوي مسجدونه چې دکومې موخې لپاره جوړ کړل شوي هغې ته پکې اجازه نه ورکول.

علامه قرطبي رحمه الله ددې آيت کريمه په تفسير کې وايي: د مسجدونو ويرانول کله حقيقي وي لکه بخت نصر او نصاراو چې بيت المقدس وران کړی وو، چې دوی په بني اسرائيلو برید کړی و، وژلي يې و تورات يې سوځولی وو، بيت المقدس کې يې قاذروات اچولي وو او تخريب کړی يې و، لنډه دا چې له مسجدونو څخه لمونځونه او اسلامي شعائر معطلول دمسجدونو ويرانول دي. [4]

پدې کې هم شک نشته چې حسي ويراني له معنوي ويرانی څخه ستر جرم دی ،ځکه دا هغې ته شامله ده.

په آيت کريمه کې مذکور وعيد عام دی هر هغه چا ته شامل دی چې پدې صفت متصف وي او دالله د خونو دويرانولو جرأت کوي.

د مسجدونو هدف ګرځول د اسلام هدف ګرځول دي، مسجدونه هغه څوک تخريبوي چې د اسلام له منځه وړل غواړي، د مسجدونو تفجيرول له الله سره جګړه ده ، ځکه مسجدونه دالله خونې دي دکوم ژوندي يا مړه انسان، پاچا يا بل چا کورونو نه دي.

مسجدونه يوازې دالله تعالی دي او بل چا ته يې نسبت ناروا دی الله تعالی فرمايي:

[وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا] (الجن: 18).

په مسجدونو کې د لمونځ کوونکو په ننبه کول دلمانځه په ننبه کول دي، ځکه د څوک چې له کوم فعل څخه کرکه لري د هغه ځای په ننبه کوي، دبيلګې توګه څوک چې له زنا سره مبارزه کول غواړي زنا خانې په ننبه کوي، څوک چې له سود سره مبارزه کول غواړي سودي بانکونه په ننبه کوي.

نو بناء دمسجدونو تفجير کوونکی لمونځ کوونکيو ته دهغوئ په لمانځه جزا ورکوي، هغه په خپل فعل له لمانځه څخه منعه کوي، ولو که په قول يې منعه نه وي تړې کړې الله تعالی له لمانځه څخه دمنعه کوونکي په اړه فرمايي:

} :أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَى (9) عَبْدًا إِذَا صَلَّى] [العلق: 9، 10]

کيدای شي يو څوک دمسجدونو دويرانولو د جواز داستدلال لپاره دمسجد ضرار باندې قياس وکړي خو دا استدلال يې مردود دی، ځکه دمسجد ضرار له لومړي سر څخه په سم نيت نه و جوړ شوی، دالله جل جلاله دذکر لپاره يې

تهداب نه و اینبودل شوی، بلکه مسلمانانو ته دضرر او تکلیف رسولو په موخې جوړ شوی وو، الله تعالی فرمایې:

(وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مَسْجِداً ضِرَاراً وَكُفْراً وَتَفْرِيقاً بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ وَإِرْصَاداً لِمَنْ حَارَبَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ مِنْ قَبْلُ) (التوبة:107)

نو هغه مسجد چې دیوه شرعي غرض لپاره جوړ کړل شوی وي، باید په مسجد ضرار باندې قیاس نکړل شي.

مسجدونه او عبادت ځایونه الله ته دخشوع له الله څخه دویرې او الله جل جلاله ته د پناه وروړلو ځایونه دي، خو چې کله یو څوک په دې ویره کې وي چې څوک به یې په مسجد کې هدف ګرځوي برید به پرې کوي نو بیا کله په خاطر جمعی سره عبادت کولی شي، کله یې زړه کې خشوع راتلی شي، عبادت ګذار باید دسکینې، ډاډ او اطمینان احساس ولري.

اسلام د راهبانو وژل ناروا ګرځولي سره له دې چې په منسوخ شوي دین د الله عبادت کوي، نو هغه څوک چې د اسلام دسپیڅلي دین په رڼا کې د الله تعالی عبادت کوي دهغوی وژل به څنګه روا وي.

د رکوع او سجده کوونکیو لمونځ ګذارانو وژل نه دثواب کار دی او نه دزړورتیا، بلکې دا له غدر ډک ډیر بزدلانه او سپک عمل دی..

دغه خلک چې مسجدونه تفجیروي او لمونځ ګوزاران وژني دنبي کریم صلی الله علیه وسلم او اصحابو رضوان الله تعالی علیهم اجمعین پسې اقتدا نه کوي، بلکه دقریشو دسترو کفارو اقتدا کوي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته به یې په مسجد حرام کې به یې تکلیفونه رسول ځوراوه به یې او دسجدې په حال کې به یې په ملا باندې د اوښ لرې کیښودې.

دوی د ابو لؤلؤة المجوسي په فعل باندې اقتدا کوي چې د اسلام دوهم خلیفه عمر فاروق رضی الله عنه یې په مسجد کې په شهادت ورساوه، نو په مسجد کې قتل مجوسي سنت دی نه اسلامي سنت.

دعبادت په ځایونو کې دامن، اطمینان او سکینې تحکیم دشارع په نزد یو مقصودي امر دی، او دې ته یې په ګڼ شمیر ځایونو کې اشاره فرمایلې:

(وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا] [آل عمران: 97) ، او فرمایلي یې دي: [وَلَا تُقَاتِلُوهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّى يُقَاتِلُوكُمْ] {البقرة: 191.[

او نبي کریم صلی الله علیه وسلم دمکې دفتحې په ورځ فرمایلي وو: "ومن دخل المسجد فهو آمن."

ددغه مقصد دحصول په منظور مسجدونه باید له هرډول شخړو او فتنو څخه خوندي وساتل شي، او په هیڅ حالت کې دهیڅ جهت سره په مسجد کې دننه دجګړې لپاره دلائل ونه تراشل شي، له یوه شخص سره دقتال له مشروعیت دا معنا نلري چې په مسجد کې دې دهغه په ضد جګړه وشي.

د مسجد حرمت تردې پورې نده مشروط چې لمونځ کوونکي دې ټول ښه خلک وي، بلکې حرمت یې هروخت واجب دی، مسجد دغه مرتبه الله تعالی ته له نسبت څخه ترلاسه کړې نه دورتلونکو له صلاح څخه.

د یو مجرم په خاطر د بې ګناه خلکو وینه تویول مباح نه شي ګرځیدلی.

څوک که دیوه نظام او دښمن په ضد جنګیدل غواړي دهغه ځایونو ته دې مخه کړي، دالله کورونه دې دځان لپاره آسان هدف نه جوړوي.

مسجدونه دالله دعبادت او هغه ته دتقرب لپاره جوړ شوي، ددې لپاره نه دي جوړ شوي چې له دښمنانو سره دې دجګړې ډګرونه وګرځول شي او یا دې په مسجدونو کې له هغوی سره حساب وشي، مسجد ته

باید دتعبد، تقرب الی الله او خضوع او خشوع په نیت ننته وځو.
الله جل جلاله فرمایي:
قال تعالی: [أُولَئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَنْ يَدْخُلُوهَا إِلَّا خَائِفِينَ] [البقرة: 114]
په تفسیر ابو السعود کې دي: یعني هغوی ته نه ښایي چې له خضوع او ویرې پرته مسجدونو ته ننوځي، دتخریبولو جرات خو ډیره لرې خبره ده.
څوک چې دلمونځ کوونکیو دوجود په توته کیدو او دقرآن مجید دپاڼو په تیت پرک کیدو، او په وینو باندې دمسجد دلړل کیدو، او دعبادت په ځایونو کې دویرې او رعب دخپرولو طرفدار وي او وربانديې خوشالیږي هغه به داسې سړی وي چې ضمیر به یې مړ وي، فطرت به یې سرچپه شوی وي نه به ددین په احترام پوهیږي او نه به دمقدساتو له مرتبې خبر وي..
د مسجد تفجیرونکیه هلاک شي!
څومره عبادتونه دې خراب کړل؟
څومره خاشع او مطمئن زړونه دې وبیرول؟
څومره مناړې چې به ترې د اذان ازانګې پورته کیدلې تا ونړولې؟
آیا ته په دې خوښ یې چې دالله په خونو کې عبادت معطل شي؟
آیا دا غواړې چې خلک دالله په وړاندې له رکوع او سجدې کولو راوګرځي؟
د مسجد تفجیرونکیه! تا څه ګټه وکړه؟
الله ته به په داسې حال ورشې چې تا هغه ډغ خاموشه کړ چې هره ورځ به یې پنځه کرته دالله دلویې او توحید چیغې وهلې!
ته دالله ددښمنانو ځپل غواړې او که دالله دشعائرو سپکاوی؟
آیا نشې کولی د احب البقاع الی الله له رنګولو پرته دالله دښمنان وځپې؟
ای هغه چې دمسجدونو تفجیرول دقربت او دثواب کار بولې آیا تا ندي اوریدلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دمسجدونو جوړولو ته هڅونه کړې؟
نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:
)من بنی لله مسجداً ولو کمَفحَص قطاة بنی الله له بیتاً في الجنة). [12]
رسول الله صلی الله علیه وسلم دمسجدونو جوړولو ته هڅونه کوي او ته یې تفجیرولو او ورانولو ته خلک رابولې؟

آیا ته دا ګمان کوې چې تاته به دمسجد په رنګولو اجر درکول کیږي؟
ای د مسجد تفجیروونکیه! آیا ته خبر نه یې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه اعرابي ته چې په مسجد کې یې بولې کولې وویل: چې دغو مسجدونو کې دبولو او نورو ګندګیو اچول نه ښایې ځکه دا دالله جل جلاله د ذکر لمانځه او دقرآن کریم دتلاوت لپاره جوړ کړل شوي دي.
او که ته دا ګمان کوې چې دبولو او قاذروا تو صلاحیت نلري خو د قتل او تفجیر یکې صلاحیت لري؟
دمسجد تفجیرونکیه! آیا خبر یې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په مسجد کې لاړې توکولو ته هم خطا ویلي دي؟
څنګه امکان لري چې مسجد کې دې لاړې توکل ممنوع وي خو لمونځ ګوزاران توته توته کول او وینه تویول دې یکې مشروع او روا وي؟
دمسجد تفجیرونکیه! آیا درسول الله صلی الله علیه وسلم هغه قول دې هیر شو چې فرمایلي یې دي:
)من أکل ثوماً أو بصلاً فلیعتزلنا، أو لیعتزلْ مسجدَنا) [15].
څوک چې خامه هوړه، یا پیاز وخوري نو هغه دې له موږ ګوښه شي، یا دې زمونږ له مسجد ګوښه شي.

نو آیا په مسجد کې دې د هوډې او پیاز بوی ممنوع وي خو د دوګ، لمبو او متفجراتو په بوی بدبویه کول دې بې روا وي؟

ای د مسجد تفجیرونکیه ! آیا نه پوهیږې چې ملائکې په مسجدونو کې شتون لري او نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چې ملائکو ته هم له هغه څه ضرر رسیږي چې بنیادمانو ته تر رسیږي.

ای د مسجد تفجیروونکیه ! آیا نه پوهیږې چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم لمونځ کونکي ته ویلي دي:

)ألا إن كلكم مناج ربّه، فلا يؤذينّ بعضكم بعضاً، ولا يرفع بعضكم على بعضٍ في القراءة). [17]

ژباړه :خبر اوسئ ! تاسې ټول له خپل رب سره مناجات کوئ، نو په خپل مینځ کې یو بل ته ضرر مه رسوئ، او په یو بل باندې په قرات کې ږغ مه پورته کوئ.

آیا په مسجد کې دې د قرآن شریف په تلاوت سره لمونځ کوونکو ته شور کول منعه وي، خو دانفجار په ږغونو دې دهغوی ویرول روا وي؟

د مسجد تفجیرونکیه ! آیا خبر نه یې چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چې تاسې کې یو څوک چې کله زمونږ په مسجد یا بازار باندې تیریږي او غیشی ورسره وي نو تیره طرف دې ونیسي.

-ألا تعلم يا مفجر المسجد أن النبيﷺ قال :(إذا مرّ أحدكم في مسجدنا ، أو في سوقنا ومعه نبل فليمسك على نصالها). [18]

نبي کریم صلی الله علیه وسلم تاته دغشي د تیره طرف دنیولو امر کوي او ته راځې مسجد په متفجراتو باندې انفجاروې.

ای د مسجد تفجیرونکیه ! آیا خبر نه یې چې په هغو اوو کسانو کې چې د قیامت په ورځ د خپل عرش د سیوري لاندې ځای ورکوي یو یې هغه تن دی چې زړه یې له مسجدونو سره تړلی وي، آیا ته نه ویریږې چې ستا په انفجار کې به دغه تن ووژل شي نو د قیامت په ورځ به الله ته څه ځواب ورکوې؟

ای د مسجد په تفجیرولو کې جرات کوونکیه ! آیا د دې کار د مشروعیت فتوا د اسلامي امت په علماؤ کې یو تن عالم درکړې؟

پوه شه هغه خلک چې تا ته د مسجدونو دورانولو امر کوي او دا کار تاته ښایسته کوي یو مفسد ټولی دی، تاته هیڅ کله نه دي روا چې خبره یې واورې او اطاعت یې وکړې.

نو ای د مسجد تفجیرونکیه ! الله ته توبه وکاږه، ... ته په ډیره ستره ګمراهی او سخت خطر کې کیوتی یې. دځان لپاره د سپیځلی جهاد په لټه کې شه او دالله له دښمنانو سره وجنګیږه. څوک چې د مسجدونو دویرانولو هڅې کوي دهغوی لپاره له دې ستر وعید چیرې وي؟

}لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ] [البقرة: 114.[

نو چې بیا هم نه راګرځي فکر نه کوم چې بل نصیحت دې ګټه ورکړي.

که ته بیا هم په خپله لاره روان وې نو زما په فکر دهغو خلکو له جملې څخه یې چې الله یې په اړه فرمایلي دي:

}قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا (103) الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا] [الكهف: 103، 104.[

نسأل الله حسن المئاب ، ونعوذ به من سوء المنقلب في الدنيا والآخرة له نن ټکې آسیا څخه په مننه.

داعتکاف فضیلتونه او مسئلې یې!

مفتي ابو الطیب

په مسجد کي ټاکلي وخت داعتکاف په نیت اوسېدل داعتکاف څخه عبارت دئ دحنفي مذهب دعلماوو په آند اعتکاف پردرې ډوله دي یو اعتکاف واجب دي دغه اعتکاف دنذر کولو څخه عبارت دئ دمثال په ډول چي څوک ووایي که زما دغه کاروسوزه به دومره ورځي اعتکاف کوم نو پرده باندي دکار داجرا وروسته په هغه اندازه اعتکاف کول واجب دي او یا دکار شرط ونه لګوي بلکي داغسي ووایي چي پرما باندي دومره ورځي اعتکاف نذر دئ په دغه صورت کي هم داعتکاف اجرا کول واجب دي.

دوهم ډول اعتکاف سنت دئ داهغه اعتکاف دي چي دروژې دمیاشتي په آخرولسو ورځو کي کېږي چي درسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم مبارک عادت هم داسي و. دریم ډول اعتکاف نفل دي دغه اعتکاف نه دورځو تعین لري او نه دوخت چي یې زړه وغواړي کولاي یې سي که څه هم دټول عمر نیت وکړي البته په کښته اندازه کي یې اختلاف شته، دامام ابو حنیفهٔ رحمه الله تعالی په آند تریوې ورځي کم اعتکاف نشي کېدلاي خو دامام محمد (رح) په آند دلږ ساعت لپاره هم اعتکاف کېداي شي او هم پردغه قول باندي فتوي دعلماوو ده .په همدې وجه هرچاته پکار ده چي کله مسجد ته ننوزي

داعتکاف نیت دي وکړي نو ترڅو چي په لمانځه مشغول وي داعتکاف ثواب به هم ورته رسیږي. ماخپل پلار صاحب ډیر وخت لیدلي وچي مسجد ته به ننوتي درستې پښې ددننه کولو سره به یې داعتکاف نیت کاوه کله کله به یې دخادمانو دتعلیم په مقصد نیت په زوره وکړي. داعتکاف زیات فضیلتونه دي تردې به نولوي فضیلت چیري وي چي رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم به تل داعتکاف اهتمام کاوه. داعتکاف کونکي مثال داسي دي لکه چي څوک دیو چاپه دروازه کي پرېوزي او وایې چي ترڅو چي مي خواست قبول نه کړي دښورېدونه یم

که په حقیقت کي څوک داسي وکړي نو هرڅو مره سخت زړه چي یې وي نرم به سي الله جل جلاله ډیر کریم ذات دي دبخښني لپاره بهاني لټوي بلکي بې بهانو هم بخښه کوي.

په همدې وجه څوک چي دنیا پریږدي دالله جل جلاله په دربار کي پریوزي نو بیا ددغه غوښتني په پوره کیدو کي څه وخت لګیږي او الله جل جلاله چي

پرچاباندي انعام وکړي نوده کوخزانو بيان يې څوک کولاي سي .ددې څخه وروسته زه دبيان څخه عاجزه يم.ځکه تل نامرد دبلوغ کيفيت چيري بيانولاي سي خوهغه وخت چې کلکه اراده وکړي.ابن قيم رحمه الله تعالى فرمايي:چې داعتکاف مقصد دادي چې دمعتکف (اعتکاف کونکي)زړه او روح دالله جل جلاله سره وترل سي،دټولوخواوو څخه فکررابندکړي يوازي دالله جل جلاله سره پيوست سي،دټولوبوختياووپه بدله کي دالله جل جلاله سره مشغول سي،دالله جل جلاله پرته دټولوڅخه اړيکي وشکوي اوداسي بوخت واوسيږي چې په زړه کې يې دټولوفکرونوپرځاي دالله جل جلاله مينه کښيني اودغه مينه دقبردوحشت په وخت کې په کار راځي په دغه ورځ به دالله جل جلاله پرته نه بل ملګري وي اونه به زړه خوشحاله کونکي وي که زړه ورسره بلدسوي وي نوڅومره به په خوندوخت پرې تيريږي

دمراقي الفلاح مؤلف ليکي:اعتکاف چې په اخلاص وي دبهترينوعملونو څخه دي ځانګړتياوي يې دومره ډيري دي چې تراندازې وتلي دي ځکه چې داعتکاف په کولوکې زړه ددنيا اودهغه شيانوڅخه چې په دنياکې دي پرېکېږي اودالله جل جلاله سره مشغوله کېږي اوخپل نفس والله جل جلاله ته سپارل کېږي.

همدادول اعتکاف په وخت کې ټول وخت په عبادت کې مشغولتياوي يعني خوب،ويښوالي، خوراک اوڅيښاک اوداسي نورې ټوله په عبادت کې شمېرل کېږي. اوالله جل جلاله ته نژدې والي دي.په يوحديث کې راغلي دي چې الله جل جلاله فرمايي: څوک چې زمالوري ته يوه لويشت رانژدې سي زه به يوګزورنژدې سم اوڅوک چې زمالوري ته يوګزرانژدې سي زه به دوه ګزه ورنژدې سم څوک چې زمالوري ته کرارکرار راځي زه په منډه ورځم يعني زمارحمت ورځي، اعتکاف کول دالله جل جلاله په کورکې اوسېدل دي څوک دسخي چاپه کورکې ډيره کېږي سخي يې خامخاډير قدراوعزت کوي.همدادول معتکف دالله جل جلاله په کلاکي محفوظ دي چې هيڅ دښمن رسيدګي نسي ورته کولاي. اوداسي نورفضيلتونه هم سته چې په دغه مهم عبادت کې نغښتي دي

مسئله :داعتکاف لپاره ترټولوغوره ځاي مکه مکرمهٔ ده بيامدينهٔ منوره ده بيابيت المقدس دي،بياجامع مسجددي اوبيادخپل محل مسجددي.دامام ابوحنيفه رحمه الله په اند داعتکاف دمسجدلپاره داشرط دي چې پنځه وخته جماعت به پکښې کېږي خودياراتوپه آندشرعي مسجدکفايت کوي.که څه هم يووخت لاجماعت نه پکښې کېږي .دښځولپاره اعتکاف په هغه ځاي کې کېږي چې دوئ دلمانځه لپاره خاص کړي وي که ښځه دلمانځه لپاره تاکلي ځاي نه لري نوپه کورکې دي يوځاي ويوکونج ته دلمانځه لپاره خاص کړي په هغه ځاي کې دي اعتکاف هم کوي.دښځولپاره دنارينوپه پرتله اعتکاف ډيراسانه دي ځکه په کورکې اعتکاف کوي دکورکارونه دنجنو يا نورو په واسطه هم ترسره کوي اوثواب هم ترلاسه کوي خوددې اساتيا سره سره هم ښځې ګويادې سنت څخه بې برخې دي.

ابې سعيد خدري رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم دروژې دمياشتې په اولولسوورځوکې اعتکاف وکړي بيايې په منځنۍ لسوورځوکې په يوه ترکۍ خيمه کې اعتکاف وکړئ(په دغه بهيرکې يې) سرراوايستې اووې فرمايل چې ماپه اولولسوورځوکې اعتکاف دقدردشپې په اميد وکړي بيامي په منځنۍ ورځوکې ددغه شپې په اميد اعتکاف وکړي بياماته يوچا (ملائکې)وويل چې دغه شپه په اخرولسوشپوکې ده نوڅوک که زماسره اعتکاف کوي ودي يې کړي ماته دغه شپه وښودل سوه بيارا څخه هېره سوه (ښښانه يې داده) چې ماددغه شپې په سهارپه خټوکې خپل ځان

سجده کونکي وليدي نوتاسود دغه شپې لتمه په طاق،طاق شپه کي کوئ ،روايت کونکي وايي په دغه شپه باران وسود مسجد بام په خاشو اولړ کوپټ و مادیویشتمي په سهار رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم په خپلو سترګو ولیدي چي تندي يې په خټو لړلی و.

فايده:درسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم مبارک عادت زيات وخت اعتکاف کول و، خوپه دغه مياشت کي يې ټوله مياشت اعتکاف وکړي،په کوم کال چي يې د دنيا ځخه تشريف وړي په هغه کال شل ورځي په اعتکاف کي پاته سو او اکثره وخت به يې دروژې آخري لس ورځي اعتکاف کاوه په همدې وجه علماء وايي چي دغه اعتکاف کول سنت موکد دي.دپورتني حديث ځخه معلوميږي چي د اعتکاف مقصد قدرشپې لټون دئ او دغه کارلپاره اعتکاف کول مناسب هم دئ ځکه که معتکف بيده هم وي بياهم پرعبادت شميرل کيږي بله خبره داده چي په اعتکاف کي يوې اوبلي خواته تلل اونورکارونه کول نسته نوځکه دده بوختيا يوازي دعبادت کول دي.په همدې وجه ځوک چي دقدرشپه غواړي نوبهترينه لاره يې اعتکاف کول دي،رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم به لومړي په ټوله روژه کي زيات عبادت کاوه بياپه اخرولسوشپو کي خوبه يې هيڅ اندازه نه وه خپله به ويښ و اودکورنۍ دويښولوبه يې هم زيات اهتمام کاوه لکه دصحيحينو دزياتورواياتونو ځخه چي معلوميږي . دبخاري اومسلم په يوروايت کي حضرت عائشهٔ رضي الله تعالی عنها فرمايي: چي رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم به دروژې په آخرولسوشپوکي لنګ ټينګ وترې شپې به يې رونولي اودخپل کورخلګ به يې هم ويښول. دلنګ ټينګ ترلو ځخه مقصد داو چي په عبادت کي به يې زيات کوشش کاوه اوهم کبداي سي چي مطلب يې داو چي دخپلو بيبيانو ځخه به يې بيخي ځان ساتي.

ابن عباس رضي الله عنه درسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم ځخه روايت کوي چي رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم دمعتکف په اړه وفرمايل :معتکف دګناهونو ځخه محفوظ دئ اودومره نيکي ورته ليکل کيږي لکه دټولو نيکيو دکونکي لپاره.

فايده:په پورتني مبارک حديث کي داعتکاف دوې خاصي فائدې بيان سوي دي لومړی داچي معتکف به دګناه ځخه محفوظ وي که نه نوانسان ډيرواري دځينو کمزوريانولـــه وجهـــي خامخاپـــه ځينو ګناهونو اخته کيږي اوپه داسي مبارک وخت کي ګناه کول ځومره لوي ظلم دي خودد غه اعتکاف په وجه به په امن وي،دوهمه خبره داده چي معتکف چي ځيني نيک کارونه داعتکاف په وجه نسي کولاي لکه جنازه ،دمريض پوښتنه اوداسي نورښه کولوبه يې الله جل جلاله ثواب ورکړي،الله اکبر!ځومره دالله جل جلاله لوي رحمت دي چي ديوه عبادت په بدله کي الله جل جلاله دلسو عبادتو ثواب ورکوي داپه حقيقت کي بخښي ته بهانه لټول دي لړغوندي توجه غواړي درحمت باران په شيبو وريږي.

خوزموږ دخلګو سره ددې قدرنشته اړتيا يې نه بولوتوجه ځوک کوي؟ولې يې وکړي چي زموږ په زړوکي ددين قدرنسته.

ابن عباس رضي الله عنه په مسجدنبوي کي په اعتکاف کي و چي يوسړی راغلي پټه خوله کښيناست ابن عباس رضي الله عنه پوښتنه ځني وکړه چي اې فلانکيه!غمجن اوخفه دي وينم څه وجه ده ؟هغه سړي ورته وويل چي اې درسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم دکاکازويه !پرماباندي ديوسړي حق دي زمادي ددغه قبردخاوندپه عزت قسم وي چي دپوره کولوتوان يې نه لرم ،درسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم وقبرته يې اشاره وکړه.ابن عباس رضي الله عنه ورته وويل:ايازه ستاسپارښت وکړم؟هغه سړي ورته وويل: ځنګه چي ته لازمه بولي، هغسي وکړه ابن

عباس رضي الله عنه ځپلی. په پښو کړې د مسجد څخه دباندې راووت هغه سړي ورته وویل چې تاخپل اعتکاف هېر کړي ابن عباس رضي الله عنه ورته وویل چې هیر کړي مې نه دي ما د دې قبر د خاوند څخه اوریدلي دي چې لږ وخت نه وتیر شوي (چې د دې الفاظو په ویلو سره) دابن عباس رضي الله عنه دستر ګو څخه اوښکې روانې شوې، چې نبي کریم صلي الله تعالی علیه وسلم وفرمایل: څوک چې د مسلمان ورور د حاجت پوره کولو لپاره ووځي کوشش وکړي، ترلسو کالو اعتکاف ثواب زیات لري او څوک چې یوه ورځ د الله جل جلاله د رضا لپاره اعتکاف وکړي دده او د دوزخ ترمنځ به د درې خندقونه پیدا سي یو خندق د مځکې او اسمان تر فاصلې زیات ډئ. نو د لسو کالو به څومره فضیلت وي چې دیو ورځې دومره فضیلت دي.

فایده: د پورتني حدیث څخه دوه مضمونونه معلوم سول. لومړی دا چې دیو ورځې اعتکاف دومره فضیلت دي چې دده او د دوزخ ترمنځ درې خندقونه جوړیږي دیوه خندق به دومره لوی والي وي لکه ټول جهان او تر یو ورځې چې اعتکاف څومره زیاتیږي ثواب یې هم په هغه اندازه زیاتیږي علامه شعراني رحمه الله په کشف الغمه کې د رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم څخه نقل کوي چې رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم فرمایي: د روژې د آخرو لسو ورځو اعتکاف د دوو حجو او دوو عمرو ثواب لري. او څوک چې د مابنام تر لمانځه وروسته تر ماخوستنه پورې په دا سي مسجد کې اعتکاف وکړي چې جماعت پکښې کیږي او د تلاوت او لمانځه پرته دبل چا سره خبرې نه وکړي الله جل جلاله به په جنت کې یوه مانۍ ورکړي.

دو همه خبره دا چې ترپورتنۍ خبرې هم مهمه خبره ده هغه د مسلمان ورور حاجت پوره کول دي چې ترلسو کالو اعتکاف یې ثواب زیات ښودل سوي دئ همدا وجه وه چې ابن عباس رضي الله عنه د خپل اعتکاف پروا ونه کړه ځکه د دې اعتکاف پوره والی په قضا سره ممکن دی همدا وجه ده چې صوفیان وایي: دالله جل جلاله په وړاندې چې د مات زړه څومره قدر دي دبل هیڅ شي نسته، همدا وجه ده چې په حدیثو کې د مظلوم د ښرا وو څخه ویره کول ښودل سوي ده. رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم چې به څوک دیوځاي حاکم مقرر کړي نو دا به یې ورته وفرمایل: واتق دعوة المظلوم. یعني د مظلوم د ښرا وو څخه ځان وساته

بترس از آه مظلومان که هنگام دعا کردن
اجابت از در حق بهر استقبال می آید

ژباړه: د مظلوم د آه څخه وویریږه چې ښرا وي قبلیدل د الله جل جلاله د دربار څخه د استقبال سره راځي په دې ځاي کې یوه مسئله دیادونې وړ ده هغه دا چې څوک د اعتکاف څخه د مسلمان د حاجت پوره کولو لپاره ووزي اعتکاف یې ماتیږي که اعتکاف واجب و نو قضایې واجب ده، رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم به د بشري اړتیا پرته د مسجد څخه نه واتی.

دابن عباس رضي الله عنه قرباني یعني دبل لپاره د اعتکاف ماتوالی د دا سي خلګو لپاره مناسب و چې خپله به مړه کېدل خواخري ځانځکي او به یې خپل ملګري ته مخکي ورکولي خپله یې نه چیښلي آن تر دې چې تږي به شهید شو لکه مخکي چې یې قصه تیره سوه او ممکن چې دابن عباس رضي الله عنه اعتکاف نفلي و په دغه صورت کې نو بیا هیڅ ډول اشکال نه پیدا کیږي.

نوشته: عبدالقادر ابراهیم

سارپه بن زنبم رضی الله عنه

ترجمه: عبدالخالق احسان

نام ونسب :نام او ساریه رض فرزند زنیم فرزند عبدالله دئلي بود.

اوصاف:ساریه رض انسان دو زمانه بود یعني در جاهلیت و اسلام زیست کرد ،و قبل از اسلام چپاولگري وراهزني کرده ودارائي مردم را مي ربائید تا که خبر او بین مردم انتشار یافت و به مجرد شنیدن اسمش میترسیدند. دردویدن خیلي چست وچالاک بود که در دوش همراي اسپ سواران مسابقه میزد چنانچه باین صفت نیز معروف و مشهور گردیده بود.

بدگوئي رسول الله صلی الله علیه و سلم:پیش از مسلمان شدن نسبت به رسول خدا صلي الله علیه وسلم بغض وکینه وحقد داشت و بي باکانه بدي رسول معظم اسلام را به زبان مي آورد ، اما وقتي که رهنمون شد.وحقیقت را به چشم سر مشاهده کرد ویقین نمود که محمد صلي الله علیه وسلم به آنچه آورده راستگو هست، وصداقت وامانتداري پیامبر را احساس کرده وآیات قرآني را شنید که بر او نازل میشود وعقل انسان را مخاطب قرار میدهد و وجدان انسان را بیدار میکند وفطرت سلیم را بر میانگیز اند وبه طرف مکارم اخلاق وعادات خوب فرامیخواند ؛ به اسلام پیوست و از بدگوئي رهبر بشریت محمد مصطفي صلي الله علیه وسلم پشیمان شد و نزد پیامبر صلي الله علیه وسلم آمد و معذرت خواهي کرده و قصیده طویلي را بخوانش گرفت که ازجمله آن این ابیات است:تعلم رسول الله أنک قادر علي کل حي من تهام ومنجد تعلم رسول الله انک مدرکي وان وعیداً منک کالأخذ بالید ونبئ رسول الله أني هجوته فلا رفعت سوطي الي اذاً یدي بیاموزان اي رسول خدا صلي الله علیه وسلم محققاً برهر زنده در سرزمین تهامه ونجد توانائي داري تعلیم بده اي رسول الله در حقیقت مرا در یافتي ووعده عذاب از طرف تو مثل اینست که انسان در چنگال عذاب باشد. رسول خدا صلي الله علیه وسلم ازین باخبر شد که من بدگوئي اش را کرده ام، بازهم اي رسول خدا شلاقم را بسوي من بلند نکردي وتا حال در دست

منست.بعد از آن به دین اسلام مشرف شد و اسلام خود را نیکو ساخت ونبي اکرم صلي الله علیه وسلم عذرش را قبول نموده و او را بخشید.

فرمانروایی: حضرت عمر رضي الله عنه بخاطر اعتمادي که به حضرت ساریه داشت او را سر کرده لشکر بزرگي تعیین کرد وبطرف سر زمین فارس گسیل داشت که این واقعه در سال بیست وسه هجري بود.حضرت ساریه رضي الله عنه سفر کرد و صحراي پهناوري را در نوردید در حالیکه قلبش مملو از عزت وابهت بود وبه یاري ونصرت خداوند اعتماد واتکاء داشت. میرفت وقیادت لشکر اسلامي را بعهده داشت تا اسلام عزیز را گسترش دهد وشهر ها را فتح نماید وبندگان را از عبادت بنده ها به عبادت الله یکتا واز تنگناي دنیا به فراخي واز ستم ادیان خود ساخته به عدالت اسلام بیرون کند.اینست فلسفه وحکمت وجوب جهاد در راه خدا و اینست پیشگامي اسلام درین مورد.

ساریه رض ندای عمر رامیشنود: حضرت ساریه رض به سفر خود ادامه داد تا با دشمن روبرو شد ،و نبرد سخت وشدیدي رخ داد وزود بود مسلمانان شکست بخورند، اتفاقاً حضرت عمر رضي الله عنه روز جمعه بر منبر خطبه میخواند که ناگهان خداوند آن میدان نبرد را به او نشان داد در حال خطبه را قطع نمود وبه آواز بلند فرمود: اي ساریه متوجه کوه باش ! ساریه ودیگر جنگاوران مسلمان این آواز را شنیدند و متوجه کوه شده و از هر طرف علیه دشمن یورش بردند تا خداوند پیروزي را نصیب شان کرد.یک ماه بعد ازین حادثه قاصد حضرت ساریه به مدینه آمد وحضرت عمر از اخبار لشکر سؤال نمود او گفت: بخدا قسم اي امیرمؤمنان یک روز عنقریب شکست خورده بودیم که دشمن از پشت کوه مي خواست بیاید و ما را غافل گیر کند.درین حال آوازي شنیدیم که میگفت:اي ساریه متوجه کوه باش این جمله را سه بار شنیدیم ما هم بطرف کوه رو آوردیم ودشمن را شکست دادیم درین وقت عده از کسانیکه در خطبه حضرت عمر رضي الله عنه حضور داشتند گفتند: حضرت عمر این آواز بلند را گفته است.این حکایت از زبان بیشتر از یک راوي ودر بسیاري از کتب ذکر شده که قابل اعتماد است و وقوع آن حقیقت دارد. این تعجب آور نیست که حضرت عمر توانست میدان نبرد را ببیند وجنگاوران آواز او را بشنوند؛ چرا که ما به کرامات اولیاء ایمان و باور داریم ودرین شکي نیست که این ما جرا کرامتي بزرگي براي حضرت عمر رضي الله عنه بوده است چونکه کرامت اولیاء در قرآن وسنت ثابت است وجز بیمار دلال وکور ضمیران کس بآن تردیدي ندارد.خداي عالم میفرماید :الاإن اولیاء الله لا خوف علیهم ولا هم یحزنون. الذین امنوا وکانوا یتقون لهم البشري في الحیاة الدنیا وفي الآخرة لا تبدیل لکلمات الله ذلک هو الفوز العظیم) هان، دوستان خدا هیچ ترس واندوهي ندارند وآناني اند که ایمان وتقوي دارند، ایشان را بشارتي است در زندگي دنیا وآخرت، کلمات خداوند قابل تبدیل نیست واین (دوست خدا بودن) رستگاري بزرگي میباشد.

پایان.

سوءظن و پیامدهای آن!

خلیل احمد جامی

یکی از ناهنجاری های زشت و مصیبت آفرین اخلاقیی که می تواند حیات فردی و اجتماعی انسان را سخت دچـار آسـیب کنـد، سـوء ظـن اسـت. سوء ظن یا بد گمانی، بیماری خطرناک روانی است که فرد مصاب بدان، علاوه بـر آن کـه از درون پـیهم بـه خویشـتن ضربه وارد میکند و هی پایه های تعادل فکری خود را به دست خویش تخریب و به نابودی میکشاند، پیامدهای زیانبار ایـن مریضـی خطرنـاک محیط بیـرون حیات او را نیز به شدت متاثر میکند و مشکلاتی پدید میآورد که به تناسب حـال و مـوقعیتی کـه در آن قـرار دارد، می تواند واقعا فاجعه بار و غیر قابل جبـران باشـد! اسـلام کـه در حقیقـت نسخه برای زنده گی و دوایی است که با آن میشود هم درون را آراست و هم برون را پیراسته کرد، بـه ایـن مـرض مهلک توجه خاص مبـذول کرده و راه های اساسی را برای علاج آن پیشکش مومنان کرده است.

نگاهی به قرآن مجید نشان میدهد که ایـن کتـاب پـر نـور و بر کـت آسـمانی، مومنان را از گمانه زنی، شدیدا بر حذر داشته و می فرماید: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ (الحجرات: ۱۲)

ای مومنـان از گمـان بسیار بپرهیزیـد یقینـا بعضـی از گمانهـا گنـاه اسـت. جالب است که این آیت، مومنان را از محضِ گمانه زنی! بر حذر داشته و آن را گناه معرفی می کند، اکنون وقتی سوء ظن را در نظر آوریم خواهیم دانست که اسلام با آن تا چه حدی از درِ مخالفت در خواهد آمد! به هر حال این موضوع در خورد آن است که جدی مورد کند و کاو قرار گیرد، لهذا در این مقال می کوشیم تا در پرتو تعلیمات دینی خود، آن را به صورت مختصر و مفید شگافته و بر رسیم. به صورت کلی میتوان بد گمانی را به دو قسم تقسیم کرد یکی بد گمانی در بارهٔ خالق متعال و دیگر سوء ظن در بارهٔ مخلوق. بدترین نوع سوء ظن، آن است که انسان در بارهٔ الله متعال بدان دچار شود . بد گمانی در باره الله متعال طوری که در قرآن مشاهده میکنیم به دو گونه است .یکی آن که انسان در اثر جهل و تکبر و غرور، دچار عدم شناخت عقیدهٔ صحیح میگردد و در نتیجه ایمان و باور واقعی در قلب مستقر نشده و معرفت درست از الله و آموزه های حیات بخش دینی به دست وی نمی آید! در چنین حالتی تصورات باطل فرد در نظرش

حق جلوه میکند و عقاید حق دیگران باطل! چنین انسانی هیچ گاه به کیفیت عقیده و ایمان خویش اندیشه نمی کند که یا از طریق مقایسهٔ با کتاب الله و یا ایمان مومنان راستین، پی به صحت یا سقم آن برده و راه حق از باطل را به خوبی تشخیص کند، لهذا نسبت به الله متعال گمانهای باطلی در خیال خود می‌پرورد و فکر می کند که الله جل شانه بر مبنای چنین خیالات عمل خواهد کرد! این فرد بر این مبطلات تا آن جا پای می‌فشارد که عذاب الهی گریبانش را گرفته و در جهنم نگونسارش می کند: وَيُعَذِّبَ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْمُشْرِكِينَ وَالْمُشْرِكَاتِ الظَّانِّينَ بِاللَّهِ ظَنَّ السَّوْءِ عَلَيْهِمْ دَائِرَةُ السَّوْءِ وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا. (الفتح:٦)

تا الله منافقان و مشرکانی را که در بارهٔ الله گمان بد داشتند به عذاب خویش مبتلا گرداند، آنان در دایره بدی گرفتارند و الله بر آنان خشمگین است و ایشان را مورد لعنت قرار داده و برای آنان جهنم آماده ساخته است و چه بد بازگشت جایی است. این آیت در بارهٔ مشرکان و منافقانی نازل شد که بر مبنای خیالات خام خویش و گمان سوئی که در باره الله جل شانه داشتند، رسالت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم را دروغ پنداشته و انکار میکردند و انتظار داشتند که الله متعال به زودی ایشان و یارانش را نابود خواهد کرد! نوع دوم بد گمانی که آن را به تعبیر قرآن ظن جاهلی میتوان گفت، زمانی در باره الله متعال جل شانه، پیدا میشود که انسان به ظاهر مسلمان، در مراحلی از حیات خود آن گاه که به صورت کامل به مراحل پختگیی ایمانی و عقیدتی و تربیتی نرسیده باشد؛ وقتی از جانب الله متعال در معرض ابتلا قرار میگیرد و آن چه را میخواهد عاجل فرا چنگ آورده نمیتواند و یا ظاهرا اهداف را دور از دسترس و احیانا دست نیافتنی میبیند، نسبت به الله متعال و وعده های برحق او، دچار بدگمانی و تزلزل ایمانی میشود و خیالات جاهلانه به سراغش می آید؛ قرآن در این باره میفرماید: ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّن بَعْدِ الْغَمِّ أَمَنَةً نُّعَاسًا يَغْشَىٰ طَائِفَةً مِّنكُمْ وَطَائِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنفُسُهُمْ يَظُنُّونَ بِاللَّهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ يَقُولُونَ :هَل لَّنَا مِنَ الْأَمْرِ مِن شَيْءٍ ؟ قُلْ : إِنَّ الْأَمْرَ كُلَّهُ لِلَّهِ! يُخْفُونَ فِي أَنفُسِهِم مَّا لَا يُبْدُونَ لَكَ يَقُولُونَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ مَّا قُتِلْنَا هَاهُنَا! قُل :لَّوْ كُنتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ لَبَرَزَ الَّذِينَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ إِلَىٰ مَضَاجِعِهِمْ وَلِيَبْتَلِيَ اللَّهُ مَا فِي صُدُورِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِي قُلُوبِكُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ(آل عمران : ١٥٤(سپس بدنبال این غم و اندوه، آرامشی بر شما فرستاد. این آرامش، خواب سبکی بود که (در جریان جنگ احد) گروهی از شما را فرا گرفت؛ اما گروه دیگری که در فکر جان خویش بودند؛ گمانهای نادرستی – همچون گمانهای دوران جاهلیت -درباره خدا داشتند و می گفتند: آیا چیزی از پیروزی نصیب ما می‌شود؟! بگو :همه کارها به دست خداست! آنها در دل خود، چیزی را پنهان می‌دارند که برای تو آشکار نمی‌سازند؛ می گویند: اگر نظر ما در این کار سهیم میبود، در این جا کشته نمی‌شدیم! بگو: اگر هم در خانه‌های خود بودید، آنهایی که کشته‌شدن بر آنها مقرر شده بود، قطعاً به سوی آرامگاه‌های خود بیرون می‌آمدند و اینها برای این است که خداوند آنچه در سینه‌هایتان پنهان دارید، بیازماید و آنچه را در دلهای شما (از ایمان) است، خالص گرداند و خداوند از آنچه در درون سینه‌هاست، با خبر است.)

هر چند اغلب مفسران قرآن کریم، آیت فوق را در بارهٔ منافقانی میدانند که در جریان جنگ احد چنین کلماتی را بر زبان میراندند، اما از جهتی، از فحوای این آیت دانسته میشود که گویندهٔ قسمتی از این سخنان طوری که بعضی از مفسران اشاره کرده اند، مسلمانان ضعیف الایمانی بودند که هنوز ایمان در قلبهای شان خالص گردانیده نشده بود، در غیر آن با دیدن شکست و کشته

شدن چند تن، این چنین خود را نمی باختند که حرفهای دوران جاهلیت را به زبان آورند و نسبت به وعده الله به تردید بیافتند!

آیه دیگر نیز موید این موضوع است:

إِذْ جَاءُوكُم مِّن فَوْقِكُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنكُمْ وَإِذْ زَاغَتِ الْأَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوبُ الْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِاللَّهِ الظُّنُونَا [۳۳:۱۰]

هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُونَ وَزُلْزِلُوا زِلْزَالًا شَدِيدًا [۳۳:۱۱]

(به خاطر بیاورید) زمانی را که آنها از طرف بالا و پایین (شهر) بر شما وارد شدند (و مدینه را محاصره کردند) و زمانی را که چشمها از شدّت وحشت خیره شده و جانها به لب رسیده بود و گمانهای گوناگون بدی به خدا می‌بردید. آنجا بود که مؤمنان آزمایش شدند و تکان سختی خوردند!

واضح است بد گمانی نسبت به الله متعال از بدترین انواع آن به شمار میرود و مخصوصا برای دعوتگرانی که در مسیر دعوت الی الله، دچار ابتلاآت فراوان میشوند قابل توجه بسیار است، چه آنان زمانی که در راه دعوت، مصائب را تجربه میکنند و راه طولانی مفروش با خارها را فرا روی خود مینگرند نباید در باره وعده های پروردگار خود مبنی بر نصرت و پیروزی، دچار شک شده و خدای نخواسته مسیر جاهلیت را در پیش بگیرند!

سم دوم بد گمانی در باره مومنان است. انسان مومن در برخوردهای اجتماعی خویش، باید همیش مثبت نگر و خیر اندیش باشد و از بدگمانی و منفی گرایی در بارهٔ دیگران و حتی در بارهٔ پدیده های ماحول خویش پرهیز کند. الله متعال در این مورد میفرماید:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ [الحجرات:۱۲]

ای مؤمنان از بد گمانی بسیار بپرهیزید چرا که بعضی از گمانها گناه است!

مع الاسف طوری که ملاحظه میشود، معمولا نگاه کردهای منفی و سوءظنهای بیمورد فراوانی امروز در میان جامعه اسلامی رواج دارد و مخصوصا در عرصه کارهای اجتماعی مشکلاتی خطیر از این ناحیه کیان تنظیمها و تشکلات سیاسی و اجتماعی را تهدید میکند.

در حرکتهای منظم معمولا نگاه های شک آلود، متوجه آن عده کسانی میشود که در اثر صلاحیتهای شخصی خود موفق به طی پله های موفقیت گردیده اند؛ این چنین افراد، به مجردی که گامی به پله اول موفقیت میگذارند، در عوض آن که مورد اعتماد بیشتر واقع شوند، معمولا در مظان شک و تردید بیشتر قرار میگیرند قسمی که شاید هر حرکت آنان با سوء ظن جدی از سوی دیگر همکاران شان مواجه شود و مخصوصا این موضوع زمانی تبدیل به قیامت خواهد شد که از این فرد کوچکترین اشتباه یا خطا و یا عمل غیر موجهی سر بزند!

این در حالی است که اسلام ما را از چنین حرکتهای گناه آلود بر حذر میدارد. تابعی بزرگوار جعفر صادق بن محمد باقر می گوید: « إذا بلغك عن أخيك الشيء تنكره فالتمس له عذرا واحدا إلى سبعين عذرا، فإن أصبته وإلا قل : لعل له عذرا لا أعرفه » شعب الإيمان للبيهقي - (۱۷ / ۳۷۸)

اگر از سوی برادرت سخنی به تو رسید که آنرا نمی‌پسندی، برای او هفتاد عذر جستجو کن و اگر هیچ عذر موجه و مقنعی نیافتی با خود بگو شاید عذری داشته است که من آنرا نمی‌دانم.

قصه آن مرد را شنیده ایم که زنا کرد و به نزد رسول الله صلی الله علیه وسلم آمد و گفت که یا رسول الله من مرتکب زنا شدم، پاکم کن! نبی اکرم روی خود از او بر گرداند تا برود پی کارش! اما او درخواستش را تکرار کرد. پیامبر فرمود: ببینید شاید دیوانه یا مست باشد! گفت: دیوانه و مست نیستم، از عذاب خدا میترسم و تقاضا دارم تا حکم الهی بالایم اجرا شود!

این دید گاه از آن جا به میان آمده که در جامعه اسلامی باید فضای اعتماد و دوستی و گذشت حاکم باشد و قرآن

برای ایجاد چنین فضای است که مسلمانان را از تجسس در احوال یک دیگر باز میدارد و میفرماید:

وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا [الحجرات: ۱۲]

یعنی (تجسس و غیبت یکدیگر نکنید!) چرا که تجسس در احوال هر کسی، بالآخره نکات ضعفی از او را برملا میسازد و اسلام ما را از پالیدن عیوب مردم و یا قرار دادن آن در معرض دید دیگران، که میتواند سلامت صدر و اعتماد فیمابین ابنای جامعه را از میان بردارد، به شدت باز میدارد! در عهد نبوی اگر کسی میخواست، از برادرش در نزد نبی اکرم صلی الله علیه وسلم غیبت کند، پیامبر او را از این کار باز میداشتند و میفرمودند، من نمیخواهم که سلامت صدر خویش را در بارهٔ اصحابم از دست بدهم! این موضوع زمانی جالب تر میشود که بدانیم، اسلام همان گونه که سوظن در میان ابنای جامعه اسلامی را بر نمیتابد، مسلمین را مکلف کرده است حتی در موقع تعامل با دشمن، نیز بدان توجه داشته باشند چنان که قرآن در مورد صلح با دشمن میفرماید:

وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ (٦١) [الأنفال: ٦١] و اگر تمایل به صلح نشان دهند، تو نیز از در صلح درآی و بر خدا توکل کن که او شنوا و داناست!)

سپس میفرماید:

وَإِنْ يُرِيدُوا أَنْ يَخْدَعُوكَ فَإِنَّ حَسْبَكَ اللَّهُ هُوَ الَّذِي أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِ وَبِالْمُؤْمِنِينَ (٦٢) [الأنفال: ٦٢]

و اگر قصد فریب تو را داشته باشند الله تو را کفایت میکند او ذاتی است که ترا با نصرت خود و به وسیله مومنان مورد تایید قرار داد.)

این آیات زیبا به ما می فهماند که مسلمان در هر وضعیتی مکلف به پیمودن راه روشن خود است! چنان که در اسلام صلح بر جنگ ترجیح دارد و اگر هنگام جنگ میان مسلمین و دشمن، صلحی بر مبنای توافق جانبین برقرار شد، نباید سوء ظنها و تردیدها مسلمانان را در بارهٔ آن مردد ساخته و وادار به نقض عهد کند، چرا که اگر دشمنان قصد و نیت بد داشته باشند، الله خود کفایت آنان میکند و مکر آنان بر مسلمانان ضرری رسانیده نمیتواند! لذا مسلمین مکلف اند که با خاطری جمع، به صلح و پیمان خود پایبند باشند!

در صدر اسلام هنگام امارت حضرت معاویه ابن ابی سفیان، رضی الله عنهما، مسلمین که با رومیان در جنگ بودند، بر اساس معاهده ای میان شان صلح و آتش بس اعلان شد! حضرت معاویه، مدتی مانده به ختم قرار داد، شروع به نفر بری به مرزهای دشمن کرد. حضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه، از وی پرسید که چرا دست بدین کار زدی؟ گفت: مدت پیمان صلح ما با دشمن در حال انقضاست و حمله دشمن بعد از انقضای مدت پیمان، محتمل است! میخواهم برای جلو گیری از پیشروی آنان قبلا آماده گی داشته باشیم! ابوایوب انصاری برایش گفت: ما در حالی که تا هنوز با ایشان داخل صلح هستیم، اجازه چنین کاری نداریم! چون این کار خیانت به عهد محسوب میشود! حضرت معاویه از تصمیمش منصرف و دستور باز گشت نفرات را صادر کرد!

بلی عزیزان! طوری که یاد آور شدیم، موقف اسلام در برابر مسائل، قاطع و بدون شک است و اندک جایگاهی مقبول برای بد گمانی در هیچ زمینه ای چه ساده یا پیچیده، بزرگ و یا کوچک وجود ندارد مثلا مینگریم که در فقه اسلامی یکی از شروط نماز پاک بودن جای نماز است و الله متعال همهٔ زمین را برای مسلمانان مسجد قرار داده است، لذا زمانی که در مکانی برای ادای نماز ایستاده میشویم، تا وقتی به صورت قطعی برای ما ناپاکی آن جا چه به لحاظ مادی یا معنوی ثابت نشده است نباید بر اساس گمانه زنی از نماز خواندن در آن جا خود داری کنیم ! در زمینه های

دیگر نیز چنین است، طوری که اجرای حد و مجازات های شرعی تا زمانی که قطعا جرم بالای افراد به اثبات نرسیده باشد، بر مبنای ظن و گمان قابل اجرا نیست!

این نمونه ها برای دعوتگران بسیار کار ساز است، تا در معاشرت با خود و جامعه آن را در نظر داشته باشند و با تناب سوء ظن دست و پای خود را نبندند و برای خود مشکل ایجاد نکنند.

در پایان این بحث خوب است به عواملی اشاره شود که موجب ایجاد سوء ظن در میان مردم میگردد.

باید دانست، اسلام به حدی با سوء ظن مخالف است که حتی اجازه نمی‌دهد عوامل آن نیز در جامعه بروز و ظهور داشته باشد قرآن به همین مناسبت مسلمانان را از در گوشی صحبت کردن در محافل باز میدارند تا مبادا این عمل سوء ظنی در کسی بیانگیزد و موجب کدورتی شود.

و همچنین در احادیث نبوی وارد شده است که پیامبر اسلام مسلمانان را از قرار گرفتن در مواضع تهمت باز منع کرده اند. چنانچه رسول الله صلی الله علیه و سلم در مسجد اعتکاف بود و روزی ام المؤمنین صفیه رضی الله عنها به خبر گیری ایشان آمدند. و هنگامی که از مسجد بخانه خویش می‌رفت پیامبر صلی الله علیه و سلم او را تا نزدیک دروازه همراهی کرد. درین اثنا دوتن از انصار از آنجا به سرعت گذشتند. رسول الله صلی الله علیه و سلم آنها را باز خوانده و به آنها گفت که این زن همسرم صفیه بود. آنها عرض کردند که یا رسول الله چگونه ممکن است که نسبت با شما بد گمان شویم! رسول الله صلی الله علیه و سلم شیطان مانند خون در رگهای انسان جریان می‌یابد و وسوسه می کند.

عامل دیگر در این زمینه میتواند اخباری باشد که احیانا برای ایجاد سوء ظن از کنار و گوشه در باره کسی یا کسانی به گوش ما میرسد! دنیای امروز دنیای شایعات و دسیسه چینیهای دروغ و بی اساس بر ضد مردم است! این جاست که قرآن به ما دستور میدهد:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ.

[الحجرات: ٦]

یعنی آن گاه که فاسقی به شما خبری آورد در آن باره تحقیق و جستجو کنید مبادا به کسی ضرری برسانید که موجب پشیمانی شما شود. البته نکات دیگری نیز در این زمینه قابل ذکر میتواند باشد که به اهم آن اشاره شد.

بلی عزیزان! این موارد اگر مورد توجه قرار بگیرد و ریشه سوء ظن از قلبها بر کنده شود، میتوانیم به زندگی بهتر و پاکیزه تری دست یابیم و با سر گرم شدن به سوء‌ظنهای تباه کنی که یقینا کمترین زیان آن میتواند بیهودگی و ضیاع وقت گرانبهای ما باشد، عمر خویش به هدر ندهیم، آری چنین میشود اگر این فرمایش قرآنی سرلوحه کار ماباشد جایی که فرمود:

إِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا

[یونس: ٣٦]

(یقینا گمان به حق راهبر نیست!) .

په قرآن کې ساینسي تحقیقات !

لیکوال: ډاکټر فضل عظیم

د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه رئیس المفسرین یو قول دی چې فرمایي: (من اياته لا تفسّروا الّا بمرور الزّمان).

د دې قران د بعضې ایتونو تفسیر د زمانې د تیریدو سره په فهم کې راځي.

د فرانسس بیکن قول دی چې وایي: د ساینس کم علم د سړي نه دهري جوړوي، ولې په ساینس باندې پوره تحقیقي علم د الله تعالی په مطلق قدرت باندې د پوخ ایمان باعث ګرځي.

اوس هم د پورته اقوالو په رڼا کې په ځینو داسې ساینسي تحقیقاتو بحث کوو چې ساینس په دې نږدې وخت کې کشف کړي دي، ولې همدغې ساینسي تحقیقاتو ته چې د انسان نیمګړی علم پې اوس پیژني قران کریم ور ته له نن څخه څوارلس سوه کاله مخکې خپله غیږه پرانستې ده او په په خپلو صفحاتو کې یې په منظم شکل ځای په ځای کړې دي، سره له دې چې قران کریم د هدایت کتاب دی، نه ساینسي کتاب، خو بیا هم د قران کریم د شپږ زرو ایاتونو له جملې څخه تقریبا زر ایاتونه ساینسي ایجاداتو او کشفیاتو ته اشاره کوي.

له دې جملې څخه یو څو یې دیبلګې په ډول په لاندې عنواینو کې لولو :لویه چاودنه(Big Bang Theory)

• د ځمکې د ګردوالي نظریه
• لمر ساکن نه بلکې متحرک دی
• واټر سایکل یا ابي ګردش
• د لور یا زوی د پیدایښت ذمه وار سړی دی، نه بڅه

• د ګوتو د نښانونو حقیقت (FingerPrints)
• په پوستکي کې د درد د احساس یا (Pain Receptors) د مادې موجودیت.
• د میږو د ژوند نظام
• شهد بڼینه مچي جوړوي
• غرونه د ځمکې د ټینګښت لپاره د میخونو حیثیت لري.

لویه چاودنه(Big Bang Theory)

د دې نظریې په اساس په ابتدایي دور کې ځمکې، اسمان، کهکشانونه او هر څه سره یوځای وو، او بیا یو لویه چاودنه وشوه چې په نتیجه کې یې ستوري او کهکشانونه منځته راغلل او بیا ځمکه منځته راغله چې مونږ په کې اوسیږو.

په ۱۹۷۳م کال کې په دې

تیوري باندې مختلفو سیاینسدانانو
دنوبل جایزې واخیستلې
خو قران کریم دې طرف ته له نن څخه
څوارلس سوه کاله مخکې اشاره کړې ده:
أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ
وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا. (الانبیاء ۳۰)
ژباړه: ایا نه دي لیدلي (نه دې خبر)
هغه کسان چې کافران شوي دي چې
بیشکه اسمانونه او ځمکې وو دواړه سره
نښتي (ضم پیوسته په اول کې) پس
بیل کړل مونږ دوی دواړه.
نو ویلی شو چې ۳۰ یا ۴۰ کاله
پخوانی نظریې په قران کې څوارلس
سوه کاله پخوا راغلې ده.
د ځمکې د کرد والي نظریه
سر فرانسس ډریک په ۱۵۹۷م کال کې
دا ثابته کړه چې ځمکه اوږده نه بلکې
کړده او دایروي شکل لري. له دې
معلومیږي چې ساینس څلور سوه کاله
مخکې دا نظریه وراندې کړې ده. خو
قران له نن څخه څوارلس سوه کاله
مخکې دې ټکې ته اشاره کړې ده او
فرمایي:
أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ
النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ (لقمان ۲۹)
ژباړه: ایا نه وینې چې بیشکه الله
ننباسي شپه په ورځ کې او ننباسي ورځ
په شپه کې.
يُكَوِّرُ اللَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى
اللَّيْلِ. (زمر ۵)
ژباړه: تاووي (نغاړي داخلوي الله) شپه
پر ورځې او تاووي ورځ په شپه کې.
شپه او ورځ هله په یو اوبل کې ننوځي او
تاویږي چې ځمکه کرده وي، ځکه شپه
او ورځ د ځمکې نه په کرد شکل تاویږي
اویږ ته خپل مدار ته رارسیږي.
لمر ساکن نه بلکې متحرک دی
مونږ په لږه کې لوستي وو چې لمر
ساکن دی او ځمکه د لمر په شا او خوا
حرکت کوي، خو اوسنی تحقیق دادی
چې، لمر هم په ۲۵ ورځو کې د خپل
محور نه یو گردش پوره کوي او د
حرکت په حال کې دی، دا نظریه
ساینس اوس ثابته کړه چې لمر د مکمل
شمسي نظام سره یوځای حرکت کوي
خو دې ټکي ته قران کریم په سورت
انبیاء کې له نن څخه څوارلس سوه کاله
وراندې اشاره کړې ده او فرمایي:
وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ
وَالْقَمَرَ كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ.
ژباړه: او دغه الله پیدا کړې ده شپه، ورځ،
لمر او سپوږمی، دغه هریوله دغو (لمر،
سپوږمی او ستورو څخه) په فلک کې
حرکت کوي او ګرځي.
واتر سایکل یا داوبو دوران:
برنارډ پلیسي نومې ساینسدان په
۱۵۸۰م کال کې دا ثابته کړه چې د اوبو
بخارات هوا ته پورته کیږي او د وریځو
شکل اختیاروي، او کله چې یخو طبقو
ته ورسیږي نو د برښنا د پیدابښت لامل
ګرځي او په پای کې په باران بدلیږي.
خو دا حقیقت په قران کریم کې په
تفصیلي شکل موجود دی چې قران
کریم ورته له نن څخه څوارلس سوه
کاله مخکې اشاره کړې ده.
الله تعالی د سورت نور په ۴۳ نمبر ایات
کې فرمایي:
أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُزْجِي سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ
بَيْنَهُ ثُمَّ يَجْعَلُهُ رُكَامًا فَتَرَى الْوَدْقَ
يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ
جِبَالٍ فِيهَا مِنْ بَرَدٍ فَيُصِيبُ بِهِ مَنْ يَشَاءُ
وَيَصْرِفُهُ عَنْ مَنْ يَشَاءُ)
ژباړه: ایا نه وینې چې بیشکه الله تعالی
روانوي شړي وریځې (توتې توتې هر
طرف ته چې اراده وفرمایي) بیا یوځای

والی فرمایي په منځ د دغو (توتو وریځو (کې بیایي وګرځوي لاندې باندې قطې په قطې پس وینې ته ای (انسانه) باران چې وځي له منځه د دې وریځې، او نازلوي له اسمانه د غرونو په مرسته ږلی، بیایي چې چاته خوښه وي نقصان ورته رسوي او چا ته چې یې خوښوي ترې ساتي یې.

د لور یا زوی د پیدابښت ذمه وار سړی دی، نه بڅه اوسني ساینس دا ثابته کړې ده چې هر ماشوم چې دې نړۍ ته ستر ګې پرانیزي که هغه هلک وي که نجلۍ ذمه واري یې سړی دی، ځکه د X او Y کروموزوم یواځې په سړي کې موجود دي.

خو دې حقیقت ته قران لا پخوا اشاره کړې ده او فرمایي:

أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِنْ مَنِيٍّ يُمْنَى ط فَجَعَلَ مِنْهُ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنْثَى. (قیامه ۳۳)

ژباړه: ایا نه وو دغه (انسان) یو څاڅکی له مني څخه چې توبوه شي (اچولی شي په رحمونو د بڅو کې) نو پیدا کړ له هغه (اوبو دمني) څخه جوړه (دوه صنفه (نارینه او بڅینه.

وَأَنَّهُ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنْثَى ط مِنْ نُطْفَةٍ إِذَا تُمْنَى (النجم ۴۵ او ۴۶)

ژباړه: او بیشکه الله تعالی پیدا کړي دي جوړې د نر او بڅې له یوه څاڅکي د اوبو (مني) څخه. غرونه د ځمکې میخونه دي علم الارضیات (د ځمکې علم) وایي چې غرونه د ځمکې پاسنۍ جر او لاندینۍ برخې سره کلکې کړي، ځکه پورته برخه چې مونږ په کې ژوند کوو که چیرې د دې غرونو په واسطه میخ نشي نو کېدای شي چې د ځمکې لاندې برخه او پورته برخه سره فاصله پیدا کړي او د ځمکې سطحه داسې په خوځښت راشي چې د خلکو ژوند په کې سخت شي، لکه څنګه چې مونږ د خیمې د درولو لپاره د خیمې پرې د اوسپنې په اساس په ځمکه کې میخ کوو تر څو د باد په راتلګ سره خیمه ونه خوځیږي همداسې مثال د غرونو هم دی په ځمکه کې چې ځمکه یې کلکه او د خوځېدو نه ساتلې ده.

الله تعالی د قران کریم په سورت نباء کې فرمایي:

أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهَادًا * وَالْجِبَالَ أَوْتَادًا (النباء ۶ او ۷)

ژباړه: ایا نه ده ګرځولې مونږ ځمکه فرش (بلکې ګرځولې ده مونږ ځمکه فرش لپاره د هستوګنې دخلکو). او (ایا نه دې ګرځولې مونږ) غرونه میخونه (بلکې ګرځولي دي مونږ غرونه د ځمکې میخونه چې په سبب یې برقراره ده.

وَجَعَلْنَا فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَنْ تَمِيدَ بِهِمْ (النبیاء ۳۱)

ژباړه: او پیدا کړي دي مونږ په ځمکه باندې درانه محکم غرونه ولاړ (یا ټک وهلي دي مونږ په کې میخونه) چې ونه خوځیږي دا ځمکه په دوی.

د ګوتو د نښانونو حقیقت (Finger Prints)

په ۱۸۸۰م کال کې فرانس ګولټ دیو تحقیق په نتیجه کې دا ثابته کړه چې د انسانانو د ګوتو نښان سره تفاوت لري او نړۍ کې یو شخص هم داسې نشته چې د ګوتو نښان یې سره یو وي او د ګوتو نښان د یو شخص د پېژندګلوي لپاره بنه ذریعه ده. د همدې تحقیق په اساس په ۱۸۸۴م کې یو قاتل ونیول شو، نو مونږ ویلی شو چې ساینس د نن ۱۴۰ کاله پخوا دې نتیجې ته ورسېد، خو قران کریم د نن نه څوارلس سوه کاله مخکې په سورت قیامه کې دې نقطې ته اشاره کړې او فرمایي:

بَلَى قَادِرِينَ عَلَى أَنْ نُسَوِّيَ بَنَانَهُ (القیامه ۴)

ژباړه: هو! حال دا چې قادر یو مونږ په دې باندې چې برابر ټول کړو هډوکي او بندونه د ګوتو ددې.

په پوستکي کې د درد د احساس ماده د تهایلینډ یو ساینسدان تهګدا شون د درد احساس (Pain Sense) باندې تحقیق وکړ او پای کې یې دا نتیجه راوویسته چې په پوستکي کې داسې ماده شته که چیرې هغه بې کاره شي نو انسان به هیڅکله د درد احساس ونکړي.

خو قران کریم په سورت النساء کې له نن څخه څوارلس سوه کاله وړاندې دې ټکي ته داسې اشاره کړې ده:

كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا الْعَذَابَ (النساء ٥٦)

ژباړه: هر کله چې پاخه شي (وسوځیږي) پوستکی د دوی (په اور کې نو) بدلوو مونږ دوی ته پوستکی غیر له هغو، لپاره ددې چې وڅکي دوی (تل تر تله نوی نوی) عذاب.

کله چې پورفیسور تهګدا دا ایت ولید نو ایمان یې راوړ.

د میږیانو د ژوند نظام نن مونږ ته ساینس دا ښایي چې په حیواناتو کې د میږیانو د ژوند ډول انسانانو ته ورته دی، د انسانانو په څیر خپل مړي په ځمکه کې خښوي، په خپلو منځونو کې د خبرو اترو نظام لري، د انسانانو په څیر مارکیټونه جوړوي او د خوراک لپاره خوراکي توکي ذخیره کوي. خو دوی لا خبر نه دي چې زمونږ قران د نن نه څوارلس سوه کاله پخوا په دې هکله مونږ ته خبر راکړی دی.

قَالَتْ نَمْلَةٌ يَا أَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسَاكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ وَجُنُودُهُ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ. (النمل ١٨)

ژباړه: نو وویل یوه میږې (چې مشر وو پر نورو) ای میږیو! ننوځئ ټول مساکنو سوړو خپلو ته چې مات او چیت پیت مو نه کړي هرومرو (خامخا) تاسې لره سلیمان او لښکر د ده، حال دا چې دوی به نه وي پوه (د تاسې له دې پامالیدو نه)

شهد بنځینه مچي جوړوي د شهدو په مچیو د تحقیق له املې نوموتي محقق (Vonfrish) ته په ۱۹۷۳م کال کې د نوبل جایزه ورکړل شوه، له ده وړاندې شکسپیر تر وخته پورې د خلکو دا ګمان وو چې د شهدو د جمعه کېدو مسؤلیت د نارینه مچیو دی، خو داوسني تحقیق په اساس دا خبره غلطه ثابته شوې د شهدو د ټولولو کېدو مسؤلیت د بنځینه مچي دی او نوره ټولې مچي د هدایت اخیستلو لپاره د مچیو د ملکې خوا ته ځي او له هغې هدایت اخلي.

خو دوی لا خبر نه دي چې زمونږ قران له نن نه څوارلس سوه کاله وړاندې مونږ ته دا خبره واضحه کړې ده او په سورت النحل کې یې د شهدو مچي ته د بنځینه صیغه استعمال کړې ده.

وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ ط ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا (النحل ٦٨ او ٦٩)

ژباړه: او په زړه کې واچوله رب ستا مچیو د شاتو ته (دا خبره) چې ونیسئ تاسې په غرونو کې کورونه او له ونو څخه او له هغه څخه چې خلق یې لوړ جوړوي .بیا نو خوړئ تاسې (ای مچیو!) له هر قسمه میوو څخه نو ځئ (الوځئ) په لیاره د رب خپل په دغه حال کې چې اسانه ده.په دې ځای کې کلي، فاسلکي بنځینه صیغه ده.

۲۰۱۶ زکال

دجون دمیاشتې جهادي خبرونه

د انتقام انګار

نظام کندهاری

چې مې سر غليمه خورند ستا په دار شي
لا تازه د انتقام درته انګار شي

ته مي وچينه په خوند د زړګي وينه
خو هر څاڅکی به يي تا ته زهر مار شي

"منصوريت" و "دار د دار" دي سره ليری
قربانۍ د عاشقانو افتخار شي

له ماغزو دي د تخويف خيالونه باسه
شهادت باندي مو مات د عشق خمار شي

د پانسی نشته حاجت درخي پخپله
چې زلمي په بارودي لباس سنګار شي

دا ګلونه خو مفت نه وه چې مات مات شول
جلادان دي خپل اجل ته انتظار شي

وخت به راشي بيا به هر زلمی عمر وي
د نظام دا مات قلم به ذوالفقار شي

کندهار

ښار کې دجاسوسي شبکې یوغړی قتل شو

دکندهارولایت د مرکز کندهارښار د ۳ حوزې اړوند دباچاخان جاده کې دجاسوسي شبکې یومهم غړی (احمدالله شاکر) په خپل کرولاموتر کې د چریکي مجاهدینولهلوري وویشتل شو اوقتل شو. ۱/۶/۲۰۱۶

شاولیکوټ کې یر غلګرو ۶ کلیوال بندیان کړي ۵ موټر او ۶ موټر سایکلونه یې سوځولي دي

دکندهارولایت د شاولیکوټ ولسوالی. د حسن زو په سیمه کې یرغلګرو دخپلو ګوډاګیانو په منتیا چاپه ووهله، د ګډ دښمن عسکرو په سیمه کې ګن شمیر خسک ووهل،۵ بایفور موټران او ۶ موټر سایکلونه یې وسوځول او د تېښتې په مهال یې ۶ تنه کلیوال یې له ځان سره یووړل. ۱/۶/۲۰۱۶

میوند کې رینجرویجاړیو ګوډاګی قومندان له ساتونکي سره پکې قتل شو

دکندهارولایت د میوند ولسوالی. دجوګرم په سیمه کې د ګوډاګي اربکیانوپه رینجر موټر چاودنه وشوه، دچاودنې له امله ګوډاګی قومندان (روزي) له خپل یوه ساتونکي سره قتل او موټریې ویجاړشو. ۱/۶/۲۰۱۶

شاولیکوټ کې ۲ رینجرویجاړ پکې سپاره ګوډاګیان قتل شول

دکندهارولایت د شاولیکوټ ولسوالی. اړوند د سرخوییب په سیمه کې دکمین په ترڅ کې دګوډاګیسانوپه رینجر موټر برید ترسره شو، دبریدپه پایله کې رینجرویجاړاوپکې ناست ګوډاګیان قتل شول، همداراز په سیمه کې ددښمن یو بل رینجر موټر هم دماین په چاودنه کې ویجاړ اوپکې سپاره ټول ګوډاګیان قتل شول. ۲/۶/۲۰۱۶

شاولیکوټ کې ددښمن بریدونه په شاتمبول شوي

دکندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالی. اړوند دکټه سنګ او کخې کوتل په استقامتونو ګوډاګي دښمن پراخ تعرضي بریدونه ترسره کړل چې ددرنوتلفاتوپه بیدلوسره په شاوتمبول شول، د کخې کوتل په سیمه کې مجاهدینو ددښمن له یوې شوبلې چې دجګړې په لومړي کرښه کې پاتې وه دهشکه ترلاسه کړه. ۲/۶/۲۰۱۶

معروف په جګړه کې ۳ګوډاګیان قتل ۴ ژوبل شول

دکندهارولایت د معروف ولسوالی. داسحاقزو په سیمه کې په ګوډاګیو عسکرو اوپولیسو بریدونه وشول چې په ترڅ کې یې ۳ تنه ګوډاګیان قتل او ۴ نور ژوبل شول، دجګړې په مهال یوتن مجاهد زخمي اوبویل دشهادت لورمقام ته ورسید، په سیمه کې د واړخطا دښمن د هاوانونو په ناتار ډزو کې ۲ کلیوال اویوماشوم شهیدان او یوماشوم او ۲ میرمني زخميانې شوې. ۳/۶/۲۰۱۶

شاولیکوټ کې ۵ ګوډاګیان قتل یوتوپک اومرمي یې غنیمت شوي

دکندهارولایت د شاولیکوټ ولسوالی. د کټه سنګ په سیمه کې ګوډاګیو کمانډو عسکرو دمجاهدینوپه مرکزونوتعرضي بریدترسره کړ چې د د مجاهدینود تکتیکي بریدونولهامله په شاوتمبول شول، په جګړه کې ۱۵تنه ګوډاګیان قتل یو کارمولي توپک او ۲۰۰۰ مرمي یې غنیمت شوې. ۳/۶/۲۰۱۶

میوند کې یوه قرارګاه فتحه ډیرې عسکرې پکې ووژل

دکندهار ولایت دمیوند ولسوالي دبند تیمور په سیمه کې ددښمن لوبه قرارګاه د مجاهدینو تر بریدلاندې راغله، دبرید په ترڅ کې قرارګاه فتحه شوه، ۲۵ تنه ګوډاګي عسکر قتل شول، ۲شوبلې یې په راکټونو ووېشتل شوې اوپه دې علاوه ۵ شوبلې ۲۱میله سپکې او درنې وسلې، یو دشپې دوربین او ګن شمیر کوچنۍ مخابرې اوزغرې او په زیاته اندازه مهمات غنیمت شول. ۴/۶/۲۰۱۶

ارغنداب کې ګوډاګی قومندان (فضلي احمد) قتل شو

دکندهارولایت د ارغنداب ولسوالی. اړوند د ارهغ په سیمه کې یوتن ګوډاګی اربکی قومندان (فضلي احمد) دمجاهدینو دغلچکي بریدپه ترڅ کې قتل شو. ۴/۶/۲۰۱۶

شاولیکوټ کې په پوسته برید ۷ ګوډاګیان قتل شول

دکندهارولایت د شاولیکوټ ولسوالی. اړوند د سبزل په سیمه کې ترینکوټ ته پرغزیدلي سړک دګوډاګي دښمن په امنیتي پوسته برید ترسره شو، دبریدپه پایله کې دپوستې تاورونه ویجاړ اوپکې میشت ۷ تنه ګوډاګي عسکرقتل شول، په پېښه کې ۳تنه مجاهدین هم زخميان شول. ۵/۶/۲۰۱۶

شاولیکوټ کې ۳ پوستې فتحه ۲ رینجرپوفلېر ۵ موټر سایکل سوځول شوي اومهمات غنیمت شوي

دکندهارولایت د شاولیکوټ ولسوالی. اړوند دکوچني کاریز په سیمه کې داربکیانوپه ۳ پوستو بریدونه ترسره شول، دبرید په پای کې درې واړه پوستې په ټولیزه توګه فتحه، ۷ تنه ګوډاګیان قتل نورې یې تېښته بریالي شول، په پوستو کې له دښمن څخه دوه عرادي رینجر موټر، ۱ فلېرموټر، ۵ موټرسایکلان، ۲ دهشکې، یو کلاشنکوف اوګن نورمهمات غنیمت شول، په پېښه کې یوتن مجاهد هم زخمي شو. ۵/۶/۲۰۱۶

تخته پل په برید کې دښمن ته تلفات اوښتي

دکندهارولایت د تخته پل ولسوالی. اړوند د ملید په سیمه کې په هغو ګوډاګیو عسکرو برید ترسره شو چې په سیمه کې له بلډوزرو او ګن شمېر شوبلو اورینجر موټرو سره ولاړ وو، دبریدپه پایله کې دوه بلډوزر تخریب اوبویل وسوځید، یوه دشوبلې دهشکه تخریب شوه اوپه دې سرېره دښمن ته ځاني تلفات هم واوښتل. ۷/۶/۲۰۱۶

شاولیکوټ کې ۵ ګوډاګي اربکیان قتل شول

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

دکندهارولایت د شاویکوټ ولسوالي اړوند د کته سنګ په سیمه کې په ګودامیو اربکیانو د کارمولي توپکونو بریدونه ترسره شول چې له املې یې ۵ تنه ګوډاګیان قتل شول. ۸/۶/۲۰۱۶

میوندکې ۲ پوسټې فتحه ۱۹ ګوډاګي پولیس قتل یوه شوبله اومهمات غنیمت شول

دکندهارولایت د میوند ولسوالي اړوند د چشمویه سیمه کې د پولیسو په ۲ پوستو بریدونه ترسره شول، د بریدونو په ترڅ کې دواړه پوستې فتحه، ۱۹ تنه ګوډاګیان قتل او نورې په ټپښته بریالي شول، په پوستو کې د دښمن یوه شوبله او ۳ کلاشنکوفونه غنیمت شول، په پښه کې یوتن مجاهد هم زخمي شو. ۸/۶/۲۰۱۶

شورابک کې ډګوډاګیانو په شوبله چاودنه شوې

دکندهارولایت شورابک ولسوالي د بادي کاریز په سیمه کې د ګودامي دښمن په شوبله چاودنه وشوه، د چاودنې له املې شوبله تخریب اوپکې ناستو ګوډاګیانو ته مرګ ژوبله واوښته. ۸/۶/۲۰۱۶

دمعروف ولسوالي په ودانې بریدکې یو ګوډاګی عسکر قتل ۲ ژوبل شول

دکندهارولایت د معروف ولسوالي په مرکزي ودانې دهفتاد و پنج بریدترسره شو چې له املې یې یوتن ګوډاګي پولیس قتل او ۲ نور ژوبل شول. ۱۰/۶/۲۰۱۶

میوندکې یر غلګرو او ګوډاګیانو ۶ کلیوال شهیدان ۱۳ بندیان او درانه تلفات یې ورا ړولي

دکندهارولایت د میوند ولسوالي د سنګبر سیمه کې ګن شمیر یرغلګرو ډګوډاګیو عسکرو په ملتیا د چورلکو په توسط چاپه ووهله، یرغلګرو د چاپې په مهال ۶ تنه کلیوال شهیدان کړل ۱۳ تنه یې له ځان سره بندیانو په توګه یووړل او ۱۵ عرادي موټر سایکلونه اوبو موټریې وسوځاوه. ۱۰/۶/۲۰۱۶

میوندکې ۲ پولیس اوبو عسکر مجاهدینو ته تسلیم شول

دکندهارولایت د میوند ولسوالي اړوند د خاک چوپان په سیمه کې یوتن پولیس په خپل ثقیل سره مجاهدینو ته تسلیم شو، همدارازد بندتیمور په سیمه کې یوتن پولیس له خپل یوه کلاشنکوف سره اوبو د اردو عسکر له خپل یوه امریکایي ثقیل سره مجاهدینو ته تسلیم شول ۱۱/۶/۲۰۱۶

شاولیکوټ کې په ګزمه اوپوسته برید ۱۹ ګوډاګیان قتل شول

دکندهارولایت د شاولیکوټ ولسوالي اړوند دابک په سیمه کې د اربکیانو په پوسته بریدونه ترسره شول چې په ترڅ کې یې ۱۹ تنه ګوډاګي عسکر اواربکیان قتل شول. ۱۲/۶/۲۰۱۶

بورابک کې مایین ۳ ګوډاګیان قتل ۲ ژوبل کړل

دکندهارولایت د بشورابک ولسوالي اړوند د محمدخان مینې په سیمه کې دګوډاګیو عسکرو په پلې ګزمه دویشتونکي مایین چاودنه وشوه، د چاودنې له املې ۳ تنه ګوډاګي عسکر قتل او ۲ نور ژوبل شول. ۱۲/۶/۲۰۱۶

شاولیکوټ کې رینجرویجار قومندان او ۱ پولیس قتل ۴ ژوبل شول

